# په لسګونو کونړیانو د داعش ډلې او طالبانو پر ضد لاریون کړی

د کونړ په ناړګي ولسوالۍ کې لسګونه کسانو د داعش ډلې او وسله والو طالبانو خلاف لاریون وکړ. لاریون کوونکو له دولته وغوښتل، چې باید په چټکه توګه کې دوی ته ګړندي او تېښتې لار نه ورسوي. دوی له حکومته هم وغوښتل چې که داعش او وسله وال جګړه نه بندوي، نو باید دوی ته د خپلو لپاره یوځای عملیات پیل کړي. خو له چې دړې یې کوره شوي کورنۍ بېرته خپلو کورونو ته ستنې شي. د لاریون مشر پاچا وايي: «له چې دړې په زرګونه کورنۍ له خپلو سیمو راوتلې او په سختو حالاتو کې ژوند کوي. په چټه توګه کې د وسله والو طالبانو او د داعش ترمنځ جګړو، د نورو سیمو او سېمونکي اندېښنې کړې چې که د جګړو او د وسله والو مخالفینو مخنه ونه نیول شي، نو د دوی ولسوالیو او کورونو ته به هم دغه جګړه راورسېږي.» په کونړ کې د ۲۰۱ سېلاب قول اردو د دوهمې لوا قوماندان وویل، چې د داعش خلاف یې عملیات پیل کړي او تر هغه به دغه عملیات دوام وکړي، خو سیمه له وسله والو مخالفینو پاکه کړي. نه وړاندې یې وویل: «د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره زموږ عملیات ډېر چټک نه دي، که ولس یو طرف ته شي خو داعش سره موږ جنګ پیل کړو او دغه شومه پدیده له منځه یوسو.» د کونړ دولتي مسوولین وايي، بې کوره شویو یو شمېر کورنیو سره د سرې میاشتې، طبیعي پېښو سره د مبارزې ریاست، د کډوالو، پراختیا او بیارغونې او کډوالو ریاست له خوا یوه اندازه مرستې شوې

Ketabton.com

# ...لمي خلیلزاد سره د سولې په اړه خبرو ته دوام ورکوي

**...مبر سیاسي او جهادي شخصیتونو هم حضور درلود، د سولې د روانو هڅو په اړه بحث وشو**
**...اسي شخصیتونو په دې اړه لیدلوري، نظریات او اندېښنې شریکې کړې**

...ت
...ي د
... له
...یکا

سره وکتل په دې کتنه کې چې د
هېواد یو شمېر سیاسي او جهادي
شخصیتونو هم حضور درلود، د
افغانستان د سولې د روانو هڅو په

سولې پروسې په اړه خپل لیدلوري،
نظریـــــــــات او اندېـــــــښنې
شریکې کړې او پر راتلونکو اقداماتو
یې مفصل بحثونه وکړل. په پام کې ده

# علامه سیدجمال الدین افغان دختیځې نړۍ ځلانده ستوری او د افغانستان ستر ملي او تاریخي شخصیت دی

**شاولي قرار**

دستر عالم، نابغه، فیلسوف او نړېوال شخصیت علامه سیدجمال الدین افغان فرهنګي، علمي او ادبي چوپړونه او خدمتونه د یادولو وړ دي چې اوس ټول افغانان پرې ریات وياړي او دغه افغان ستر شخصیت خدمتونه په زیات درنښت سره یادوي. عربي پوه، محمدپاشاالمخزومي دخاطرات جمال الدین افغان په نامه په خپل اثر کې دغه راز په بغداد کې عالم عبدالمحسن قصاب او همدارنګه په ډیلي کې تاریخ پوه سیدمبارزالدین رفعت قاضي محمدعبدالغفار، مصري عالم مصطفی عبدالرزاق، روسي عالم پلیخانوف، تاجکي عالم حق نظروف او هم د افغانستان لوبولیکوالانو عبدالحی حبیبي، محمودعثمان صدقي، مولانا محمدامین ګیاڼي، سیدقاسم رښتیا، ګل پاچاه الفت، خادم دکتور طبیبي، روهي، مولانا حبیب الرحمن مهدی قریشي،

دکتور سعیدافغاني او هم ایراني لیکوال اوعلمي شخصیت ایرج افشار ایراني لیکلي چې سیدجمال الدین افغان دکونړ ولایت اسعدآباد ته منسوب څخه دی. دغه راز په خپله سیدجمال الدین افغان هم په خپله لیکلي چې «من سکنه کابل من اهالی الافغاني السید جمال الدین من سادات کنړ» میاشم سیدجمال الدین افغان په هېواد او بهرکې یو شمېر فرهنګي، عرفاني، ادبي او علمي آثار اولیکني کړي، چې په بېلا بېلو هېوادونو کې چاپ او خپرې شوي دي. دسیدجمال الدین افغان له دغو لیکنو څخه دالعروه الوثقی په نامه دسیدجمال الدین افغان دهغو علمي او ادبي آثارو څخه ګڼل کېږي، چې دزیاتو لوستونکو او مینه والو پام یې خانته راواړولی دی او لوستلو ته یې هڅوي. دالعروه الوثقی لاانفصام لها په نامه دده لیکني په ۱۹۱۰ م کال کې دسرمحرر الشیخ محمدعبده په هڅه په پاریس او قاهره کې په لوموړي جریده کې چاپېدلې چې دسیدجمال الدین افغان له خوا داروپا، آسیا او افریقا دولسونو لپاره خپرېږي. ددې جریدې ۱۸ ګڼې په پاریس کې خپرې شوې اوبیا دفرانسې له خوا لوموړي جریده بنده شوه، خو دیادي جریدې ټولې مقالې په ۱۹۲۳ م کال کې په بیروت کې دیوې مجموعې په توګه چاپ شوې دي. بیا دغه مجموعه دمولانا عبیدالله صافي اوسمندر غوریاني له خوا په پښتو او دري ژبو په کابل کې هم چاپ شوې ده. دغه راز د «تتمه البیان في التاریخ الافغان» دسیدجمال الدین افغان بل علمي او ادبي اثر په عربي ژبه په ۱۳۱۸ هجري قمري (۱۹۰۱ م) کال کې په قاهره کې چاپ شو، بیا همدغه اثر په ۱۳۱۸ شمسي کال په پښتو او دري ژبو دمولانا محمدامین خوګیاني له خوا ژباړل شو او وروسته چاپ ته وړاندې شو، چې وروسته بیا څو ځلې نور هم چاپ شوی دی. دغه ډول دسیدجمال الدین افغان علمي او ادبي لیکني په انګرېزي اوعربي ژبو دضیاالخافقین په نامه جریده کې هم په ۱۹۳۸ م کال په لندن کې خپرې شوې چې ټوله محتوا یې دانګرېزانو دسیاست په اړه وه او هم هغه مهال دیادي جریدې په ۱۲۱۳ ګڼو کې دایران سیاست عدل شوی دی. دغه راز دده علمي او ادبي لیکنې په اردو ژبه په کلکتې او حیدرآباد کې هم په ۱۸۶۵ م او په ۱۸۸۳ م کال کې په اردو او فارسي ژبو خپرې شوې دي همدا ډول په ترکي ژبه په ۱۸۷۰ م کال او په ۱۸۹۲ م کال په استانبول کې هم مقالې خپرې شوې او په دې توګه یې په نړېواله اوسېمه ییزه کچه سیدجمال الدین افغان ادبي، سیاسي، احتماعي اوفرهنګي شخصیت ځلولي دی، دافغانستان دغه ستر علمي، فرهنګي ادبي شخصیت ګران هېواد، په خاصه توګه دلوی ننګرهار او کونړولایت، بلکې دټول افغانستان دخلکو لپاره ستر وياړ ګڼل کېږي او ټول په افغانان دغه ستر او نابغه شخصیت علمي، فرهنګي او ادبي خدمتونه په ډېر وياړ سره یادوي

دافغانستان د مشهور دیني، روحاني، علمي او ملي شخصیت په توګه علامه سید جمال الدین د سید صفدر خان زوی او په خپله پښتون افغان دی، چې له نن څخه ۱۱۶ کاله پخوا یې په جلا وطنۍ کې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي. علامه سید جمال الدین افغان د ۱۲۵۴ هجري کال د لیندۍ (قوس) په میاشت کې د افغانستان د کونړونو ولایت په اسعد آباد کې په یوه روحاني کورنۍ کې وزېږېد. د سید جمال الدین پلار امیر دوست محمد خان د دربار د منورو او ملو کسانو له جملې څخه و. د سیدجمال الدین نسب د حضرت سید علي ترمذي څخه، چې په پیربابا مشهور دی او بیا د حضرت علي کرم الله وجهه د زوی حضرت حسین (رض) ته رسېږي

په کوچنوالي کې که، چې په سید جمال الدین کې د نبوغ علامې راښکاره شوې، پلار یې هغه د دوی کلي ته نږدې د حضرتانو دیني مدرسې ته، چې د کامې د «شیګر» په سیمه کې واقع وه، ولېږه څه موده هلته د دیني علومو په زده کړه بوخت شو او وروسته د خپل پلار په ملتیا پلازمېنې کابل ته راوړل شو دلته سیدجمال الدین د وخت له مشهورو افغاني عالمانو څخه د اسلامي علومو په څنګ کې د طب منطق، فلسفې او نظامي مسائلو زده کړه هم وکړه. سیدجمال الدین د علومو په برخه کې تر دې حده ورسېد، چې ډېرو اړوندو استاذانو سید ته له تدریس ورکولو څخه ماجرو. سید جمال الدین په زلمیتوب کې هندوستان ته ولاړ او دیني او عصري علوم یې نور هم تعقیب او زده کړل وریسې حجاز ته ولاړ او یو کال په عربي نړۍ کې وګرځېد. په کال ۱۲۷۳ هجري کې مکې معظمې ته ولاړ او په حج دبیت الله شریف مشرف شو او بیا بېرته خپل پلرني ټاټوبي افغانستان ته راغی. له دې سفرونو څخه نوموړي ته یو فکر پیدا شو، چې څنګه وکولای شي، چې خپل هېواد او نور اسلامي هېوادونه د انګرېزي استعمار پر ضد راپیدار کړي او د ژغورلو لارې چارې یې کومې دي. هماغه وو، چې خپلې عملي هڅې یې په دې لاره کې پیل کړې. دا وخت د امیر دوست محمد خان زوی امیر محمد اعظم خان د افغانستان پاچا او سیدجمال الدین د سلاکار دنده پر غاړه ورکړه وریسې کله، چې امیر شیر علي خان د دوهم ځل لپاره پاچا شو، سید جمال الدین یې له اعظم خان سره د ټینګ او په تور د انګرېزانو په اشارې او لمسون ته هېواده وتلو ته اړ کړ کله چې سیدجمال الدین، هېواد پرېښوده د خپل افغانستان د پرمختګ او سوکالۍ په اړه یې ټول وړاندیزونه او پلانونه امیر شیر علي خان ته وروسپارل او له امیر سره یې خدای په اماني وکړه. سیدجمال الدین لومړی هند ته ولاړ، هلته یې (رد علی الدهریین یا نیچورالیزم) په نامه څېړنیز اثر ولیکه چې طبعیت ته د رجوع د مسلې په اړه و، چې په هغه وخت کې څنګ له خدای پرستۍ څخه کفر ته تلل. سیدجمال الدین زیار وویست، چې د هند د مسلمانانو او هندوانو تر منځ نفاق ته د پای ټکی ورکړي او د هندي متجدد سید احمد خان سره یې یو ځای د خرافاتو پر ضد تبلیغ کاوه. د برتانوي هند حکومت سیدجمال الدین کلکتې ته راوغوښت او په ۱۲۶۲ هجري کال کې یې برتانیې ته تبعید کړ. نوموړي هم غوښتل، چې خپله مبارزه د استعمار په زړه لندن کې پر مخ بوزي. په لندن کې انګرېزي دولتي مقاماتو غوښتل سیدجمال الدین ته د سوډان د باداشاهۍ د مقام په ورسپارلو دې قانع او غلی کړي، خو نوموړي انګرېزانو ته د دې وړاندیز په ځواب کې وویل: «ستاسو دغه وړاندیز مانه دلالت ستاسو د پاګل توب په سیاسي چارو کې کوي. آیا سوډان ستاسو مال دی، چې باداشاهي یې مانه راکوی؟ سوډان د سوډانیانو حق دی، که تاسو سوله غوښتونکي یاست، نو تاسو ته لازمه ده، چې د آیرلنډ ستونزې ته ورودانګۍ، چې له هره پلوه تاسو ته نږدې دی.» انګرېزي دولت پرېکړه وکړه دا وار سیدجمال الدین هېواد ته وشړي فرانسویان، چې هغه هم د انګرېزانو سخت رقیبان وو. د سیدجمال الدین شخصیت ته متوجه شول او هغه ته یې په فرانسه کې د هستوګنې او سیاسي فعالیت اجازه ورکړه. نوموړي هلته خپلې مقالې د روس او انګرېز د استعماري سیاستونو په اړه لیکل شرولې. د وخت د مصر او ترکیې پر حکومتونو یې کلکې نیوکې کولې. په دغه وخت کې د سیدجمال الدین یو بل همکار، چې محمد عبده نومېده، هم پاریس ته راغی. دوی دواړو په ۱۲۶۳ هجري کال کې د «عروه الوثقی» د ورځپاڼې لومړی ګڼه په عربي او فرانسوي ژبو نشر ته وسپارله، چې په ډېرو هېوادونو کې د سیاستوالو د پام وړ وګرځېده. دا نشریه به فرانسه کې لاس په لاس د خلکو په منځ کې د لوستلو لپاره ګرځېدله. نوموړې ورځپاڼه د اتلسو ګڼو له نشر وروسته په کال ۱۸۸۳ زېږدیز کې مصادره شوه. وروسته دا جریده د سیدجمال الدین د شاګردانو په همت د یوه کتاب په بڼه چاپ شوه. د سیدجمال الدین اروپستانکو کارونو څخه یو هم د ده علمي مناظره د یوه فرانسوي فیلسوف (ارنست رنان) سره د سوربون په پوهنتون کې د دین او فلسفې په باره کې وه. سید به ویل: «دینونه، چې په هر نوم وي، یو بل ته ورته دي. د فلسفې او دین تر منځ هېڅ ډول پخلاینه نشته، ځکه دین انسان ته ورزده کوي، چې عقیده ولري، لیکن فلسفه انسان له دین څخه راګرزوي.» سید په ۱۸۸۶ زېږدیز کال کې بېرته لندن ته ولاړ او هلته یې د ایران پاچا قاجار له رسمي استازو سره مرکې وکړې او وروسته له هغې یې ایران ته د ورتګ بلنه ورکړه. سید په ۱۸۸۸ زېږدیز کال کې تهران ته ورسېد. د سید په لومړنیو مرکو کې، چې د ایران له پاچا سره یې لرلې، د ایران عالمانو د هغه پر تفکر راټول کړل په دې مرکو کې سید په سپینو خبرو د ایران دولتي مقامات په ځان خاني تورن کړل او له ټولو ایراني روڼ اندو او منورینو څخه یې وغوښتل، چې په یوه عمومي نهضت کې د انګرېز د استعماري پروګرامونو پر ضد ملي پاڅون وکړي. همدا راز کوم وخت، چې سید قاجار په حرم سرای کې ډېرې بې نکاح ښځې ولیدلې، حرم یې مردود وباله. دغه ایراني پاچا له سید څخه د بیلتون لار خپله کړه او په یوه پلمه یې سید آذربایجان ته ولېږه کله، چې د روس دولتي مقامات باکو ته د سید په راتګ خبر شول د هغه هر کلی یې وکړ او له دې، چې د افغان پاچا محمد اعظم خان وزیر پاتې شوی و، هغه ته سیاسي پناه ورکړه. سیدجمال الدین د روس له قیصر سره د نړېوال سیاست په باب اوږدې خبرې تر سره کړې او په ورځپاڼو کې یې د انګرېز د استعماري سیاست، په ایران کې اداري فساد او د روس د استعماري کړنلارې، په افغانستان، ایران او هند کې تودو اوبو ته د رسېدو په باره کې یې مقالې او یاداښتونه ولیکل او خپاره یې کړل. سید د سنټ پترزبورګ په ښار کې د «معنی او میتافیزم بر لاسی پر ماتریالیزم باندې» په باره کې معنقي بحثونه تر سره کړل. روسي ژبه یې یوازې په یوه اوونۍ کې په هغه کچه زده کړه، چې په بحثونو کې یې نور ژباړونکي ته حاجت نه درلود. سید جمال الدین د روس قیصر قانع کړ، چې هغه ۵۰ میلیونه روس میشته مسلمانانو ته قرآن کریم او نور دیني کتابونه چاپ کړي. سید په پیترزبورګ کې د میشتو قرغزي، ایراني او قفقازي ځوانانو پر روزنې پیل وکړ، لیکن د روس دولت ډېر ژر سید له روسیې وشاړه. سید د آلمان مونش ته ولاړ او په ۱۲۶۸ ل کال کې اطریش ته مهاجر شو او په ۱۲۷۰ ل کال کې بېرته لندن ته ولاړ. په لندن کې یې د یوه مشهور هندي لیکوال ملکم خان سره په ګډه د (ضیا الخافقین) په نامه په عربي ژبه د یوې ورځپاڼې په خپرولو پیل وکړ. خو د دې نشریې مقالو د انګرېز ګټې په ایران کې په خطر کې اچولې. انګرېزانو دا ورځپاڼه د ۱۸۹۲ ز کال د مارچ په میاشت کې بنده کړه. وریسې په ۱۸۹۲ ز کال کې د عثماني ترکیې پاچا سلطان عبدالحمید، سید ترکیې ته وروباله. استامبول ته په رسېدو یو جګپوړي افسر، چې دده له هرکلي کوونکو څخه و، نه سیدجمال الدین ته وپوښتل: ستاسو اثاثیه یا سامان او لوازم مو چېرته دي؟ سیدجمال الدین ورته وویل: د کالیو او کتابونو له صندوق څخه پرته نور څه نه لرم. افسر خواهش وکړ د هغو ځای مانه راوښایاست! سید خپل لاس خپل ټټر ته ونیو او وې ویل، دا زما د کتابونو صندوق دی او بیا یې اشاره خپلو اغوستو جامو ته وکړه او وې ویل،

۳ مخ

د ختیځ ستوري علامه سید جمال الدین افغان

## سرمقاله

# افغانان د خپل ځان پر زیان پر سوله «معامله» نه مني!

په افغانستان کې سوله اوس پر ملي بحث بدله شوې ده، ځکه سوله، ستره اسلامي او هېوادنۍ غوښتنه ده، له همدې امله افغان ملت په یو لمر سوله غواړي او په دې کې هېڅ ډاسې معامله نه مني، چې ملي ګټې او ورو‌ښتې لاسته راوړنې تر پښو لاندې کړي او بیا دا چې په سختۍ د را منځته شوي نظام د چپه کېدا سبب شي. له نېکه مرغه له افغان حکومت سره ملت په دې کې یوه خوله دی او په ملي یووالي د باعزته او اصلي سولې غوښتنه کوي. افغان حکومت په کور د ننه د ملت د سیاسیونو، مدني ټولنې او د استازیو نظرونه تر لاسه کړي او د سولې لپاره ملي اجماع رامنځته شوې ده. له امریکا متحده ایالتونو سره هم د سولې پر سر افغان حکومت ورو‌ښتي هوکړې ته رسېدلی دی، ولسمشر محمد اشرف غني خپله دا مسئله څرګندې او د سپینه ماڼۍ په دې خوښه راغلې، چې په افغانستان کې یې ۱: کلنه جګړه ختمه او د دې لپاره سیاسي حل لاره لوره شي. افغان حکومت او ولس ته د سولې ارزښت ډېر لوړ دی، هر افغان تر هر څه مخ کې لومړی د سولې ارمان لري. له همدې امله د سولې لپاره هڅې مهم او پرخلیک ټاکونکي پړاو ته رسېدلې دی، له دې وړاندې افغان ملت او په ځانګړې توګه حکومت د سولې لپاره د خبرو له ځنډوالي او په دې اړه د امریکا د استازي او طالب ولسي ترمنځ له پرېکړو بې خبره ساتل شوي وو، ځکه په دې کې تر کاسې لاندې نیم کاسه وه، خو ملت له دې ستري دوکې په وخت خبر شو او تصمیم یې ونیو، چې نور د بل د کټو ښکار نه شي او یو ځل بیا بې خدای مه کړه دا معامله پر شانګ نه اړ نه یاسي، ځکه ملت نور په هېڅ توګه پر شانګ نه مني او د پر شا تګ پلونه یې ټول پر ځان پسې نړولي دي. اوس افغان حکومت د ملت په استازولۍ له امریکا سره د باعزته سولې لپاره ورو‌ښتي پرېکړې ته رسېدلی دی. د سولې لپاره د امریکا متحدو ایالتونو ځانګړي استازي ته هم ملت او هم حکومت خپل پیغام او اندېښنې وړاندې کړې او د امریکا حکومت هم د افغانانو ملي غوښتنې ته د درناوي سرټیټ کړی دی. خلیلزاد له څو ورځو را هیسې په دې اړه له بېلابېلو لوریو سره ګوري، پرون هم هغه ولسمشر غني ارګ ته یو ځل بیا ور غوښتنې و او د یو شمېر جهادي او سیاسي مشرانو په حضور کې یې د سولې ملي غوښتنې ورته بیان کړې او له طالبانو سره یې د سولې لپاره د نورو خبرو په اړه چې پټې ساتل کېدې، ځینې اندېښنې ښکاره کړې. دوی پرېکړه وکړه، چې په دې اړه به بیا هم سره وینې. په ورته وخت کې د ناټو د غړیو هېوادونو استازي د دغه ټرون د سرمنشي په شمول په سپینه ماڼۍ کې په دې اړه دیره شوي دي، د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ له ولسمشر ټرامپ سره کتلي او دواړه لوري د افغانانو د ملي غوښتنو په پام کې نیولو سره د سولې لپاره پر سیاسي حلا لارې خوښ دي. د ناټو غونډه د ینس سټولټنبرګ په مشرۍ په سپینه ماڼۍ کې پرون جوړه او نن به هم دوام وکړي، په دې غونډه کې د نورو مسئلو تر څنګ د افغان سولې د بهیر پر پرمختګ هم بحث وشو. ناټو او امریکا د افغانانو د ملي غوښتنې پر بنسټ د باعزته سولې هرکلی او ننګه وکړه. افغان حکومت او ملت دواړه د امریکا او ناټو د به نیت د زړه له تله منندوی دي او هیله لري، چې دا لوري د سولې له مخې ورستي څنډونه هم په ستر قوت سره لرې کړي او پر هغو هېوادونو او لوریو په ټول وس فشارونه راوړي، چې دا څنډونه را ولاړوي او د سولې ښکاره یا پټ مخالفت کوي

# زلمی خلیلزاد لارې ته سم کړای شو

**عبدالقیوم عاجز**

په رښتیني ډول سره د افغان سولې قیمت هر افغان ته تر لعلو او جواهرو لوړ دی، خو دا چې د هڅو په نوم لوبې روانې دي او تراوسه یې هېڅ امتیاز او ګټې څخه افغانستان له دې برخمن شوی، نو دا بیا بېرته اندېښمنونکي ده. د سیمې هېوادونو ته د افغان سولې لپاره د امریکا د

لوبغاړي دي که ده هرڅه وویل دا سم نه دي، که ده یوځه وکړل نو هغه به ومنل شي چې تر یوه حده بشپړ دي. د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب وویل چې خلیلزاد لوبه لوبوي رښتیني نه دي چې به

ځانګړي استازي خلیل زاد د سفرونو او مصروفیتونو په هکله که وویل شي، نو باید اوس د ټپوڅلي جګړې په کچه پرون او هوکړې شوي وای، خو ولې تراوسه د خلیل زاد او طالبانو د خبرو اترو او خرکو له لګښت نه دې، دا جوته شوه چې خلیل زاد د دې ټپوڅلي بل لوري ته کړه کړي وه، خو داچې څنګه سمې له رامخه دې خبرې نه راځي. خلیل زاد ټولې اسیا خصوصا منځنۍ اسیا ته را ټیټ شوی

وړاندې یې د امریکا ته ولسمشر ټرامپ څخه لېږلی، تر پېړیو چارو وزارت او پېنټاګون پورې سخت غبرګونونه وښودل شول چې دا هم په خپل ذات کې د پوښتنې وړ موضوع ده. امریکا غواړي محب اوس هم منزوي کړي، خو کله یې چې د افغان ولس ازادۍ او ملاتړ ته وکتل، نو سر یې خلاص شو او د موقت دولت ته چلیدونکي لاس په سر شو، ځکه نن خلیل زاد د ټاکنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتون ژغورنې غورځنګ په څه ډول او ولې رامنځته شو؟

سیف الله خان مندوخېل

د ۲۰۱۸ کال د جنوري په ۳ نېټه
په فیسبوک پاڼو کې یو په بل پسې
معلومات خپرېدل چې د نقیب الله مسید
(مسعود) په نامه یو ځوان له خپلو دوو
نورو ملګرو سره د کراچۍ له چېپل
ګارډن سهراب ګوټ څخه پولیسو له
خان سره وړي دي، حال دا چې په
کراچۍ ښار کې دا خبرې عامې وې
خلکو فکر کاوه، چې پولیس تل په دې
ډول عام خلک په ساده جامو کې پورته
کوي
ره په دې پوه وم چې پولیس په څه
ډول خلک وړي او په قانوني ډول د
عدالت له پلې کېدو پرته یې له خانه سره


نقیب الله مسید

شمېرې او معلومات یې غوښتې وو، له
دوه ساعته کوښښونو وروسته هاشم خان
مندوخېل په پښتون ولس خصوصاً په
ځوانانو چیغه وکړه چې د چهیپا سرد
خانې مخې ته راشئ او تر هغو به له ځو
تر ځو چې خپل مړی ترلاسه نه کړو، ما
هاشم خان مندوخېل ته زنګ وواهه، د
احوال پوښتنه مې وکړه، بیا مې مخلص
مندوخېل ته زنګ وواهه او له ټول
جریان څخه مې خبر کړ او ور ته ومې

کېږي، ما له هاشم خان مندوخېل سره
مشوره وکړه چې یو احتجاج به وکړو،
ده راته وویل چې سمه ده، خلک
راټولوه، ما د پښتونخوا ملي عوامي
پارټۍ سینډ نایب صدر سکندر خان
یوسفزي او د صوبايي ډپټي سیکرټر
نورالله خان لوین ته زنګ وواهه، دوی
راته وویل چې د ځوانانو د تیارولو فکر
مه کوئ، چې موږ د احتجاج خبرې
سیف الله خان مندوخېل
ورته وکړې، پولیسو په دې شرط د
نقیب شهید مړی راکړ، چې په خاموشۍ
به یې باسئ او سیده به یې خپل کلي ته
وړئ، بس خط یې راوړ د نقیب الله
شهید مړی مو تر لاسه کړ، غسل مو
ورکړ، تابوت امبولیس هر څه تیار
شول، په فیس بوک پاڼو کې مو په
ژوندۍ بڼه ویډیوګانې شروع کړې او
خبرې اترې مو پکې وکړې، له قاضي او
محکمې لرې وژنه مو په کلکو ټکو
وغندله د هاشم خان مندوخېل ویډیو
ډېره عامه شوه بیا زموږ یو ملګری چې
علي ارقم نومېده او د ځېر پښتونخوا په
ورځپاڼه کې یې کار کاوه، موږ ته وویل
چې موږ د کراچۍ پرېس کلب ته
درځو، د نقیب شهید له مړي سره د
پاکستان حکومت ته خپل ژړغاړې کوو،
هغه دا مشوره رد کړه او ویې ویل چې
دا وخت د شپې ۸۰۰ بجې دي او
پرېس کلب پر پنځه بجې بند شوی دی،
ده رانه کړه چې تاسو مړی سهراب
ګوټ ته یوسئ، هلته به سپرهالی وي
بنده کړئ، چې د کراچۍ ښار تر ټولو
مهمه لاره ده او هلته ټول پښتانه
اوسېږي، نو موږ هم پرې عمل وکړ،

نقیب خپلوانو ته یې ووېل چې د خلکو
له منځ څخه ځان وباسئ ګڼې نور تاوان
به هم درکوو، چې موږ دا مهده شو، بیا
مو له خپلو ملګرو سره دا فیصله وکړه
چې اعلان به کوو چې سبا دې په ټول
ملک کې لاریونونه وشي او په خصوصي
توګه پر کراچۍ پرېس کلب باندې، بیا
تاسو ولیدل چې د جنوري په ۱۸مه
نېټه د پاکستان په لویو لویو ښارونو کې
لاریونونه وشول او د پښتونخوا ملي
عوامي پارټۍ په کې ډېر مهم رول
ولوباوه، ځکه چې هغه وخت پښتون
تحفظ موومنټ نه و، د دې ګوند غړو ته
آفرین وایم ورسره د عوامي نېشنل ګوند
د(NYO) هم د فدا کاکړ تر مشرۍ په
مرسته راسره وه
د یو شاعر شعر راته په یاد شو چې
د ډار په ښار کې به باغي باغي لهجه
عامه کړم
ره به قیصې وکړمه داسې چې قیصه عامه
کړم
خبره تر بین المللي رسنیو ورسېده د
خلکو په زړونو کې هغه ډار او وېره
ختمه شوه، چې کلونه کلونه یې
درلوده
په سبا ماښېښن د جمعې له لمانځه
وروسته د جنوري پر ۱۹مه نېټه په
سهراب ګوټ کې ډېر پراخ لاریون وشو،
چې ډېر ګڼ شمېر پښتنو په کې ګډون
وکړ او پاکستاني میډیا هم راغلې وه
ماښام د تعزیتي کېمپ لګولو اعلان وشو
او هم په دغې شپه پاکستاني میډیا زموږ
ملاتړ وکړو، خصوصاً جیو نیوز شاه زېب
خانزاده خانګړی راپور جوړ کړ، په دا
سبا تعزیتي کېمپ د ګرېنډ پښتون
جرګې په نامه جوړ شو، راوانور له
خپلې دندې وګوابل شو، دغه کېمپ
په سهراب ګوټ کې د لویې لارې تر
څنګ په ډېره سوله یېزه طریقه ۱۲
ورځې فعالیت درلود د نقیب شهید پلار
محمد خان کاکا به له قبایلي مشرانو سره
ناست و او د هرې سیاسي پارټۍ مشران
به راتلل او له موږ سره به یې غمرازي
وکړه، له قاضي او محکمې پرته د سپینو
خلکو وژلې په سختو ټکو وغندل شوې،
په ریښتیا هم دا یو بل موړ و، چې کله د
لر او بر پښتون اوغان نواب محمد ایاز
خان جوګېزی صیب، د پښتون قامي
جرګې کنوینر، د پښتونخوا ملي عوامي
پارټۍ مرکزي رهنما راغلی او د مشر
محمود خان اڅکزي پیغام یې راوړی او
دلته یې پښتنو ته ډېرې په زړه پورې
خبرې وکړې، عمران خان سراج الحق
او د عوامي نېشنل ګوند میا افتخار
حسین، ستېر شاهي سید د فدا مشران او
ډېر محترم پښتانه هم راغلي وو، د دې
کېمپ خرڅ مسعود قبیلې ور کړ، لس
میلیونه کالداري چنده یې سره را جمع
کړه، په دې تحریک کې له موږ سره یو

اردو ویونکي تر ځوان جبران ناصر
ملګری و، جبران ناصر وکیل دی او د
بشري حقوقو دغوښتلو لپاره کار کوي،
دغه تعزیتي کېمپ ته منظور پښتین هم د
یو عام ځوان په توګه راغلی و، د خبرو
وخت مو ورکړ، ښې خبرې یې وکړې،
زما په رومبي ځل لیدل ورسره وشول،
ډېر یې متاثر کړم، د نقیب الله شهید
فاتحې ته دپښتونخوا ملي عوامي پارټۍ
چېرمین ملي مشر محمود خان اڅکزی
راغی او د هر رنګه ملاتړ ډاډ یې ورکړ،
او موږ ته یې داسې وویل چې خپل
شخصي کارونه پرېږدئ او ټول په دغه
کار پسې ودرېږئ، کور یې ودان
له هغه وروسته د پاکستان په ستره
محکمه سپریم کورټ کې د نقیب شهید
کیس داخل شو، د پولیسو د آئي جي په
سرپراهۍ کې یو تفتیشي ټیم جوړ شو،
قانوني کاروايي شروع شوه، د نقیب الله
شهید په خلاف ټول الزامونه دروغ
شول، راؤانور د ۴۴۴ انسانانو قاتل
ثابت، او غلی شو، سپریم کورټ د نیولو
حکم وکړ، خو راوانور د ډېرو زورورو
په لاس کې و، له دې ځایه منظور پښتین
بېرته وزیرستان ته لاړ، هلته یې د مسعود
تحفظ موومنټ په نامه خلک یو ځوانان
سره راغونډ کړل، بیو ته راغلی دلته یې
طاقت نور هم پیاوړی شو، وروسته پېښور
ته لاړ، له دې ځایه یې زیات پښتانه
ورسره ملګري شول، چې په همدې
سره د پښتون لانګ مارچ پیل او د اسلام
اباد پر خوا روان شو، هلته پښتون پرلت
پیل شو
په دې وخت کې د پاکستان رسنیو له
راپور ورکولو څخه لاس واخیست او
موږ په همدې وخت کې سوشیل میډیا
مجبور شوو، چې تر اوسه پورې
ځوانانو پر فیس بوک او ټویټر خپله
مبارزه دوامداره ساتلې ده
وروسته د اسلام اباد پرلت ته ټول
سیاسي مشران ورغلل، چې اسفندیار
ولي خان او محمود خان اڅکزی هم
په کې وو، ولس ته یې وساوې وکړې او
هر ډول د ملاتړ نه؛ بلکې دا کار یې د
خان وګڼلو، دلته د آزاد افغانستان ولس
له موږ سره او د ولسمشر محمداشرف
غني ټوېټ چې خومره تعریف یې وکړم
کم دی، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د
پښتنو اوغانانو لاریونونه چې موږ ته یې
په صحیح معنا کار راکړ، او همداسې د
اسلام اباد پرلت د فبروری تر ۹مې نېټې
پورې دوام وکړ، بیا د پاکستان لومړي
وزیر شاهد خاقان عباسي پرلت کوونکي
د منظور پښتین په مشرۍ کې
وروغوښتل او ژمنه یې ورسره وکړه چې
ستا سوټولې مطالبې موږ درسره منو،
تاسو پرلت ختم کړئ
منظور پښتین
منظور پښتین پرلت ختم نه کړ؛ بلکې

یوه میاشت یې وخنډ اوه، چې په دا یوه
میاشت کې به موږ په ټوله پښتونخوا کې
جلسې او مظاهرې وکړو، پښتون ولس
به له خانه سره ملګری کړو، ځکه چې
دوی خو دا کار یوازې د مسعودو او
قبایلو لپاره روان کړی و، نو مسعود
تحفظ موومنټ په پښتون تحفظ موومنټ
بدل شو، موخې نورې هم پراخې
شوې، ځکه چې پښتانه وايي (د قام ناتار
په قام راګرځي، او منظور پښتین لومړی
چیغه په جنوبي پښتونخوا کې وکړه،
صلح شیراني درازنده استقبالیه جلسه، د
مارچ په نهمه نېټه د ژوب ولسوالۍ
پراخه جلسه، په سبایې په کلا سیف الله
کې لویه جلسه او هم په دغه ورځ د
پشین ولسوالۍ په خانوزي ښار کې
جلسه، په ۱۱مه نېټه د جنوبي پښتونخوا
ستر مرکزي ښار کوټه کې لویه جلسه او د
راروانې میاشتې یعنې د اپرېل پر ۸مه
نېټه د لوی افغانستان د ژمي په پایتخت
پېښور کې یوه لویه جلسه کېږي، د
پاکستان په تاریخ کې په لومړي ځل په
۵۳ ښارونو کې په یوه ورځ لاریونونه او
احتجاجونه وشول، زموږ غوښتنه دا وه
چې د پاکستان حکومت دې د پښتون
تحفظ موومنټ ټول شوې کارکوونکي نه
تنګوي، لکه سردار عارف وزیر، ډاکټر
شفیع مسعود او صادق اڅکزی دې


منظور پښتین

خوشې کړي، همدارنګه د ژوب، کلا
سیف الله او کوټې د ګیډونکي جلسې
کې شوي غیر قانوني FIRs دې ختم
کړل شي، اوس دا تحریک مخ په
وړاندې روان دی، کله د پاکستان
چلوونکو د عقل له بوهې څخه کار وانه
خیست، نو دا به د دوی په ډېر تاوان
تمام شي او دوی به په نړیواله کچه نور
هم پاتې راشي، دا خبره خو تر لمر سپینه
ده چې د ظالم او مظلوم په جنګ کې
بریالیتوب همېشه د مظلوم وي، نو دا
جهان ته معلومه ده چې موږ پښتانه
مظلوم یو
زموږ د تحریک یوه بله مهمه برخه

د پښتون مترقي لیکوال ادبي ټولنې
ډېره اسماعیل خان څانګې په پښتون
لانګ مارچ کې ډېر ښه رول وو، د
ملګري شوکت عزیز وزیر ترانه «دا
څنګه ازادي ده» ډالدې پښتون پرلت ته
یو نوې انرژي وبخښله
انقلاب انقلاب انقلاب آزادي آزادي
آزادي
موږ پښتون مترقي لیکوال ادبي ټولنې
ته افرین وایو
د نقیب شهید ذاتي ژوند:
نقیب الله د منځني پښتونخوا «فاټا»
جنوبي وزیرستان مکین اوسېدونکی و،
په قام مسید (مسعود) و، د پلار نوم یې
محمد خان مسید دی، یو بل ورور چې
تر نقیب الله مشر، فرید الله نومېږي او په
عربو کې په مزدورۍ بوخت وي، نقیب
الله خپلې مور کې نسیم الله بللو، د
نقیب الله واده شوی و، دوې لوڼې او
یو زوی هم لري، نقیب الله ډېر امن
خوښوونکی، نرم او خوږ ژبی انسان و،
په خپل ژوند کې یې د نوو جامو،
انځورونو، مېنو ځوانانو انځورګرۍ سره
ډېره مینه درلوده، فیس بوک یې په ډېر
تماشه انداز کارولو، چې ۲۵ زره فالورز
لري، دلته په کراچۍ کې له تېرو اتو
کلونو راهیسې په مزدورۍ بوخت و، د
هغه پلار محمد خان کاکا سره زما ډېر
ملاقاتونه شوي دي، یو ورځ یې ډېرې
قیصې راته وکړې د کاروبار په اړوند یې
راته وویل چې نقیب الله خوږ سړی و،
پلار یې ویل چې نقیب الله مې ډېر نه
تنګولو، چې څه یې راوړ ما به ورته وویل
صحیح ده، یا به یې یوه ورځ راته وویل
چې لاټکه زه به د کپړو دکان راوباسم په
مزدورۍ کې بچت نشته یا څه پیسې ما
ورکړې او څه یا فرید الله ورته رالېږلې
وې، دوکان یې خلاص کړ، میاشت یې
نه وه پوره شوې چې تورمخي راغلل،
له خان سره یې بوتله او مړی یې د نورو
په اوږو کورته راغی
محمد خان کاکا ډېر باغیرته قبایلي مشر
او غیرتي پښتون دی، بلکل لکه د مشال
خان او ملالې یوسفزۍ پلارونه
الله دې دټولو لر او بر پښتنو په سیمه
کې سوله راولي
نوټ: دغه لیکنه په ننني افغانستان
اوونیزې کې هم چاپ شوې ده

ساتي، یا ترې ډېرې پیسې غواړي، که
چا یې وس نه درلود، نو بیا هغه د ترهګر
نوم لګول کېږي او په Fake
Encounter کې یې وژني
نقیب الله مسید
په حقیقت کې پرېشانۍ په مخه کړی وم،
همداسې وخت تېرېده، چې د جنوري
په ۱۶مه نېټه انګازه خپره شوه، چې
نقیب الله یې وژلی دی، د شپې ۲۰۰
بجې مې خپلې فیس بوک پاڼه وکتله
چې ګهیځ افغان «په ژوب مندوخېل
کې زموږ هم فکره ملګری» په یو پوست
کې د نقیب مسید د مړي د یو انځور او
ورسره یوه لنډه قیصه خپره کړې وه،
چې په همدې پوست کې یې زه او
هاشم خان مندوخېل هم خان ته ور
غوښتي وو، اندېښنه مې نوره سوا شوه،
سهار چې راپاڅېدم، عالم زېب مسعود
ویډیو جوړه کړې وه، او لیکلي یې و،
چې د نقیب شهید مړی په کراچۍ
چهیپا سرد خانه Cool centre صدر کې
ایښودل شوی دی او د نقیب الله شهید
کورنۍ ته خپل مړی نه ورکول کېږي
خلک وايي چې پولیسو سخت هدایات
کړي دي، چې دا یو ترهګر دی، دا به په
ایدهي قبرستان د لاوارثو په هدیره کې
ښخوي، د جنوري ۱۷مه نېټه وه
د ورځې پر یوه بجه د هاشم خان
مندوخېل پوستونه خپل شول چې د
نقیب الله شهید د کورنۍ د موبایل

وېل چې ته هم راشه له خانه سره
مې خپل یو ورور کی ترور شفیق افغان
هم راروان کړ
هاشم خان مندوخېل، ګهیځ افغان،
رحمت شیراني، ولس یار کاکړ، محمود
شاه مندوخېل او د نقیب الله شهید د


سیف الله خان مندوخېل

کورنۍ دوه تنه هم وو، په دې وخت
کې بیا موږ له چهیپا والا سره خبرې
وکړې، هغوی د شاه لطیف تاون د
پولیس تهاڼې خط وغوښته چې د نقیب
الله شهید مړی راته وسپارئ، بیا سیف
الرحمن مسعود او امجد مسعود د نقیب
کورنۍ د لاس لیک او خط لپاره هلته
ولېږل شول، له یو څه وخت تېرېدو
وروسته مو ورسره حال ونیوه، هغوی
وویل چې پولیس والا نه راسره رضا

خو چې هلته ورغلو ماحول بدل و،
ځکه چې دا د راوانور ولسوالي وه، ده
له ۴۴۴ څخه ډېر خلک وژلي وو او
ډېر خلک یې اغوا کړي هم وو، بس
چې د جنازې لمونځ وشو، هغو خلکو
له خپلې وېرې وویل چې بس تاسو
خپلو کورونو ته لاړ شئ، موږ د نقیب
الله شهید مړی وزیرستان ته وړو او هلته
د پولیسو ګاډي هم ګرځېدل، چا دا هم
وویل چې د پولیسو ټیلیفون راغی، د

---

## علامه سید جمال الدین افغان د ختیځې نړۍ ځلانده ستوري...

دا زما د کالیو صندوق دی... !؟
ترکي دولت سید ته د ښوونې او
روزنې په وزارت کې د استاذ منصب
ورکړ مصاحفین یې وايي «سید
مُجرد و، عفیف النفسه و، لمونځ
ګذاره و، او تل به په اودسه ګرځېده،
لږ خوب یې کاوه، په ورځ کې یې
یوازې یو ځل خوراک کاوه، قوي
او چټکه حافظه یې درلوده او په
استدلال به یې خبرې کولې» خو د
نورو دولتي حسودو او بخیلو اراکینو
د منفي تبلیغ له کبله یې یو ډول نظر
بند ژوند کولو کوم وخت، چې د
ایران پاچا ناصر الدین شاه د سید د
یوه زده کوونکي میرزای کرماني په
واسطه په قم کې ووژل شو، د سید

موقعیت په ترکیه کې نور هم ورپسې
کړکېچن شو او ژوند یې د یو بندي په
شان تېرېده هغه وو، چې د ۱۲۷۶ ل
(۱۸۹۷ز) کلونو ترمنځ د کب میاشتې
په اتلسمه نېټه د ۵۰ کلونو په عمر د
سرطان د مرض له کبله یې ځان حق
ته وسپاره، لیکن یو شمېر خلکو
عقیده لرله، چې سید ته یې زهر
ورکړل او شهید یې کړ او د ترکیې
داستانبول د مشایخو په جرګه کې
خاورو ته وسپارل شو اروا یې دې تل
ښاده اوښاده وي او لوی الله دې
یخپلو پیروانو کې وشمېري افغان
شاهي دولت د ۱۳۲۷ ل کال د تلې
میاشتې پر اتلسمه د سید مړی له
ترکیې څخه خپل ګران وطن

افغانستان ته را راووړ او په درنښت سره
یې د کابل په پوهنتون کې خاورو ته
وسپاره محمود خان طرزي په خپل
کتاب کې لیکي «علامه سید جمال
الدین افغان د عرفان یو کان یا معدن
و، هغه اووه میاشتې، چې ما له سید
سره تېرې کړې داویاوو کلونو سیاحت
ارزښت لري...» اوس همدغه زموږ
ګران محمود خان و، چې شهزاده
امان الله خان ته یې د سید افکار
تشریح کړل او غازي امان الله خان یې
دې ته وهڅاوه چې تېرې کوونکي
انګرېز ته برېنډه توره په لاس ګڅر نه
ورو وځي او مبارزه ورسره وکړي او د

خپل هېواد سیاسي آزادي ورته
واخلي، نو ځکه دا ویلای شو چې د
تاریخي افغانستان د استقلال متفکر
علامه محمود خان طرزي او د
استقلال ګټونکي اعلیحضرت غازي
امیر امان الله خان دواړه د سید
شاګردان او په ۱۹۱۹ز کال کې د
افغانستان آزادي دعلامه سیدجمال
الدین افغان دفکري زېږنده او په
واقعیت کې د ملي مبارز سید جمال د
دوو شاګردانو تبلیغاتي مبارزو په پایله
کې په لاس راغلې ده
دعلامه سیدجمال الدین افغان په اړه
له پاڼو واقعیتونو څخه دلالجري چې

همه دافغانستان دډېرو زړه وړو، روڼ
آندو، علمي، ملي، سیاسي او وياړلو
شخصیتونو له ډلې څخه ګڼل کېږي
او خپل ګران هېواد افغانستان او
خلکو ته یې ستروياړونه په برخه کړي
او نه یوازې یې په افغانستان، بلکې
دنړۍ په نورو هېوادونو کې هم
دنړۍ دخپلواکګرو، ښکیلاکګرو،
نیواکګرو او استعمارګرو ګروخواکونو
پرضد دخلکو دازادۍ غوښتنې، اسلام
پالنې او وطن پالنې لوړ احساسات
پرزیاتو څپو او خوځښتو راوستل او
په دې برخه کې یې دخلکو دویښولو
او پوهولو لپاره زښتنې خدمتونه

سرته ورسول چې خلک پرې تل
وياړي لکه چې دافغانستان مشهور
شاعر ګل پاچاه الفت افغانستان ته له
ترکیې څخه دعلامه سیدجمال
الدین افغان دجنازې د راوړلو
پرمهال دغه علامه ته په خطاب کې
څه ښه ویلي دي:
بې حسابه ځانګکي توی په بحروبرشي
نه تکونو کروړونو یو ګوهرشي
میندې راوړي ډېر زامن ډېر اولادونه
یو یاڅوه یې افلاطون او سکندر شي
ډېر پوهان ورته سرټیټ په شاګردۍ
کړي
ډېر شاهان یې په تعظیم مخې ته
ورشي
هې نوم هسې نشان یې شي به برخه

چې لوی فخر دملت اوخپل ټبرشي
دختیځې نړۍ نابغه او دعمل او
نظر اسلامي فیلسوف علامه سید
جمال الدین افغان په دې نړۍ کې
داستعماري واکمنۍ په دوره کې
زموږ ددغې ادعا ثبوت یو بل ژوندی
مثال دی چې دنړۍ ښکیلاکګرو،
زبېښاکګرو، نیواکګرو او استعمارګرو
ځواکونو دافغانستان دختیځې
زېږوونکي او هستوونکي هېواد
دبېنو خدمتګارانو او واقعي نجیبانو
دینو غورځولو او بدنامولو لپاره نه
راز راز شومو توطیو
او پاروونکو تبلیغاتي وسیلو څخه تل
کار اخیستی دی او تل به یې یاد
دکاغذ پرمخ باقي پاتې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادب، تاریخ او فولکلور

## پر توري کرښې، سپینې خبرې

دوهمه او وروستۍ برخه

له بل خطه یوه نیمه پېړۍ دمخه لا انګرېزان دې ته متوجه وو، چې روسان به پر افغانستان یرغل کوي، نو ځکه خو د هند وایسرای «جان لاورېنس» د دې شونتیا په اړه، چې روسیه به پر افغانستان یرغل کوي، خان به هند ته رسوي، ویلي وو «پرېږدئ چې هغوی لوی ګامونه واخلي او وړاندې ولاړ شي، د اباسین او اکسوس تر منځ ولوېږي، پرېږدئ چې دوی خپله لاره ووهي، دسختو هېوادونو پر لور، هغه هېوادونه چې متعصب او زړور نفوس لري، چېرته چې به هر میل کې یوه نه ماتېدونکې مخکه راځي، دوی مجبور دي چې مقاومت وکړي، هغوی به ډېر ځواک له لاسه ورکړي، یا به له سټړیو پیاده وو، مالو سپرو او له عیبونو ډک لوژیجي نظام سره ځنګه هند ونیسي؟»

امریکایان، چې دلته په پیل کې په ډېر غرور راغلل اوس په خته کې نښتي دي، د پاکستان د نه مهار له امله له سختو ستونزو سره مخ دي او د ماتې امکان یې ډېر دی

لیکوال د نورو لیکوالو په شان «افغانستان د امپراتوریو هدیره» ګڼلې ده.

**ډیورنډ کرښه** لیکوال په خپل اثر کې ګڼ شمېر داسې دلایل راوړي، چې د هغو له هر اړخیز تحلیل وروسته سړی دې نتیجې ته رسېدلای شي چې دا کرښه په چل، مهارت او یا هم د امیر د ناجوړتیا په حالت کې پرې لاسلیک شوې ده، لاسلیک هم پر بل کاغذ شوی او اصلي متن امیر ته نه دی وړاندې شوی، تیمور ډیورنډ او امیر عبدالرحمن خان، چې دواړه په فارسي ژبه پوهېدل او له مخکښې لفظ سره سم متن باید په همدې ژبه ترتیب شوی وای، خو ډیورنډ امیر ته یوازې انګرېزي متن ښکاره کړی، چې امیر پرې نه پوهېده او نه هم پر دې مهال له امیر سره د ژباړن او درېمګړي په توګه څوک موجود و، یوازېنی کس چې د پردې تر شا ناست و او یادښتونه یې اخیستل، هغه هم میر سلطان محمد خان و، چې په خته پنجابي او وېل کېږي چې د انګرېزانو جاسوس هم و لیکوال د ډیورنډ د هوکړه لیک په برخه کې د دریو کسانو رول ډېر مهم ګڼي «چې یو انګرېز جاسوس (سالتربیس) بل تیمور ډیورنډ او درېیم

ډاکټر «هیملټون» چې ټول انګرېزان وو لیکوال ډېر داسې دلایل راوړي «چې امیر دا مهال سخت ناروغ د حافظې توازن یې له لاسه ورکړی او د هډوکو په درد اخته و، هره دویمه خبره یې بده لګېده. لیکوال دا پوښتنه مطرح کوي، په داسې حال کې چې امیر د خپل حاکمیت لپاره په کور دننه وړې وړې سرداری ختمې کړې، د خپل حاکمیت ساحه یې پراخه کړه، ځنګه دې ته حاضر شو چې د خپلې خاورې یوه برخه پردیو ته وبښي، همدغه پوښتنه یې چې د کتاب په پیل کې مطرح کړې وه، په وروسته برخو کې یې ورته مستدلل ځوابونه ورکړي دي

**له هوکړه لیک وروسته حالت:**

لیکوال پر دې ټینګار کوي چې دا هوکړه لیک هیڅکله هم د پولو د تثبیت لپاره نه و برابر شوی، نه د انګرېزانو امپراتورۍ دا غوښتل او نه امیر، ځکه انګرېزان په دې پوهېدل چې د مصنوعي پولو جوړول او بیا د هغو ساتنه له حقوقي، پوځي او اقتصادي پلوه اسانه کار نه دی، په

دې تړون او تړې وروسته پولو اسادو کې د نفوذ ساحه ذکر شوې ده، نه له برتانوي هند سره د دې ځمکو د الحاق مسئله ده په دې برخه کې د انګرېزانو د هغه وخت د لومړیو وزیرانو، دبهرنیو چارو وزیرانو، ځینو سفیرانو، پوځیانو او ژورنالیستانو نظرونه هم د سند په توګه راوړي دي لیکوال وایي چې کله هم د تزاري روسیې او افغانانو تر منځ پولې تثبیت شوې او همدې انګرېزانو په کې،

حضور درلود، نو بیا تر نه پورې هیڅکله هم کوم لوري د اعتراض غږ پورته نه کړ، خو د ډیورنډ کرښې په باب له (۱۸۹۳م) کال وروسته په (۱۸۹۸، ۱۹۰۵، ۱۹۱۹، ۱۹۲۱، ۱۹۳۰) کلونو او نورو وختونو کې خو ځله له هر افغان واکمن سره د بیا بیا تائید او تصدیق په باب خبرې شوې دي، دا د دې مانا ورکوي چې دا کرښه کومه طبیعي پوله نه وه او یوازې د برتانوي هند او افغانستان د امیر د نفوذ یا اغېزې موقته ساحه په ګوته کوي

سر ویلم کیر فراسر ټایټلر وایي: «دا کرښه د قوم پېژندنې، جغرافیې او تګلارې له مخې بې منطقه ښکاري»

لویس دوپري وایي: «دا د یوې مصنوعي کرښې تر ټولو نه اخوړ دی چې یوه کلتوري سیمه سره بېلوي»

د برتانیا د کورنیو چارو پخواني وزیر او بیا وروسته لومړي وزیر (هربرټ اسکویث) وایي: «دا قوانین ټول نړیوال اصول، نړیوال عدالت او نړیوال مفهوم تر پښو لاندې کوي»

د افغانستان پر هر حکومت چې هر خومره فشار راغلی چې دا کرښه په رسمیت وپېژني: چا ورته غاړه نه ده ایښې، ان د ډېرو کمزورو حکومتونو واکمنو هم دا کار نه دی کړی کله چې پاکستان د یوه نوي دولت په توګه ظهور کاوه، نو هغه یوه اوونۍ دمخه افغانستان برتانوي هند ته په رسمي ډول احتجاج وکړ او په کې یې ووېل چې له ډیورنډ کرښې اخوا د برتانوي هند تر کنټرول لاندې پښتنو لپاره باید د ټولپوښتنې خانګړی صندوق




کېښودل شي چې دوی مستقل هېواد غواړي او که بېرته له خپل پلرني هېواد (افغانستان) سره یو ځای کېږي؟ له پاکستان او هند سره خو د یو ځای کېدو خبره هیڅ مطرح نه وه

د پاکستان له جوړېدو سره سم افغان ډیپلوماتانو اووه ورځې په متواتر ډول په لندن کې د برتانیا د بهرنیو چارو له وزارت سره خبرې وکړې او له خپلې خاورې سره یې د جلا شویو سیمو د بېرته الحاق غوښتنه وکړه انګرېزانو وویل چې پاکستان د برتانیا ځایناستی دی، افغانانو ورته وویل چې پاکستان خو له هند څخه راجلا شوی، نه دا چې هند له پاکستانه رابېل شوی، خو که ستاسو ځایناستی وي، نو باید هغه ستاسو وارث هم وي او ستاسې پورونه هم پرې کړي، اوس خو د برتانیا پورونه هندوستان پرې کړي، نه پاکستان. افغانستان په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړیتوب پر غوښتنه هم اعتراض وکړ، ملګرو ملتونو په پیل کې ځکه د پاکستان غړیتوب ونه مانه چې هغه د چا وارث نه و، پاکستان ته یې وویل چې تاسو د یوه نوي دولت په توګه غړیتوب ترلاسه کولای شئ، خو نه د کوم بل دولت د وارث په توګه. نو څوک چې د یو چا د وراثت دعوه له لاسه ورکړي، له هغه سره د کوم تړون په باب ولې بحث ونې؟ لیکوال وایي چې د افغانانو له فعالې ډیپلوماسۍ سره سره بیا هم د پښتنو برخلیک د پاکستان لاس ته پرېوت. دی په دې برخه کې د ټولو هغو اشخاصو او حکومتونو نومونه اخلي چې په دې سلسله کې ګرم دي، لکه جواهر لعل نهرو، اولف کایرو، حاج میرزا، لیاقت علي خان، د برتانیا حکومت او نور...

**د ډیورنډ عمري حل لاره** لیکوال خپل اثر له یوه هدفمن مسیره پیل کړی او پر یوه هدف او هیله یې بهیر پای ته رسولی دی. لیکوال د یوې نتیجې په توګه وایي چې د افغان عمري د دومره اوږدوالي یو اساسي علت ډیورنډ کرښه ده، که چېرې دا کرښه نه وای، افغانستان به د لویې لوبې ډګر نه وای، په افغانستان کې به جګړې نه وای، افراطیت به نه وای، د روسانو او امریکایانو یرغلونو ته به زمینه نه برابرېده او د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونه به د افغانستان په کړکېچ کې نه راټاله کېدل، دی وایي چې په سیمه کې پاکستان هغه نوی هېواد دی چې له پیله یې د ځمکښوونې ستراتېژي درلوده، دی وایي کوم ظلمونه چې پاکستاني پوځیانو پر پښتنو کړي، هیڅ یرغلګر نه دي ترسره کړي، لیکوال دا ادعا ثابتوي چې پاکستان د ځمکنیونې شوق لري، د هند او افغانستان پراخې ځمکې یې لاندې کړې دي، بیا وایي «تر هغه پورې چې پاکستان له ځمکنیو پلوه مهار او راکم نه شي، په دې منطقه کې طبیعي ثبات نه راځي، دی د پېړیو



پوهاند اسمعیل یون

په اوږدو کې (آمو) او (اباسین) د افغانانو طبیعي پولې بولي او له نړۍ څخه غوښتنه کوي چې د دې هدف لپاره له افغانانو سره ودرېږي. دی په دې برخه کې د برتانویانو ډېر اعترافات هم یادوي، لکه یو برتانوي جنرال سرجیمز کوټران چې ویلي وو «زموږ د امپراتورۍ طبیعي پوله اباسین دی چې بل څوک یې د نیولو جرئت هم نه شي کولای» لیکوال وایي د خاورې همدې بېلتون افغانستان کمزوری ساتلی او نه شي کولای په سیمه ییزه او نړیواله کچه خپل حقوق ترلاسه کړي. دی په دې نظر دی چې نړیوال زبرځواکونه په اوسني شکل نه پاتې کېږي، امریکا ورځ تر بلې پخوانی زور او ځواک له لاسه ورکوي، چین او روسیه په سیمه ییزه او نړیواله کچه د دوو نویو زبرځواکونو په توګه راڅرګندېږي لیکوال په دې خبره هم حواشیني ښکاره کوي چې د پښتنو په باب په خپله د دوی له خوا ډېر کم آثار لیکل شوي او هغه هم اکثره بېرته له منځه تللي دي او د بهرنیو له خوا چې کوم آثار لیکل شوي، اکثره یې فلتر شوي او د هغو د ګټو انځورونه کوي

راجیف دوګرا د طالبانو پر وړاندې له امریکا سره د پاکستان شرکت صادقانه نه بولي او دا د امریکا یوه غټه تېروتنه ګڼي چې پاکستان ته د یو ستراتېژیک ملګري په سترګه ګوري. لیکوال امریکا ته یادونه کوي چې پاکستان له امریکا سره کټ مټ همغه لوبه کوي چې له پخواني شوروي اتحاد سره یې کړې وه. د پاکستان پوځیان په دې نظر دي چې موږ د نړۍ یو ستر زبرځواک مات کړی او اوس د بل ستر زبرځواک نوبت دی. لیکوال د افغانستان د حقوقي داعیې لپاره ټول مستدلل دلایل راوړي، د هغو په پای کې د خپلو خبرو د نچوړ په توګه د دې یادونه کوي چې د دې ټولو دلائلو پر بنا هغه ممکنه ده چې یو قوي او غښتلی افغانستان جوړ شي او د قوي او غښتلي افغانستان جوړېدل بیا هغه وخت ممکن دي چې ډیورنډ کرښه له منځه لاړه شي او افغانستان خپلو طبیعي پولو ته ورسېږي

## مکثی برکتاب چاپ شده (دری افغانی)

حیات الله حلیم

زبان ازبدو پیدایش خود وسیله افهام وتفهیم دربین انسان ها و جوامع بشری بوده ، لیکن تمام زبان های جهان همزمان یکسان نبوده وروی همرفته نظریه مهاجرت ها ازقدیم بشربه مناطق و جغرافیای دیگری نقل مکان گردیده که به این اساس تنوع و تغییرات در زبان ها بوجود آمده است ودرپهلوی این تغییرات با گذشت زمان درقالب هرزبان لهجه ها ی متفاوت نیزبوجود آمده است ، درجهان امروزی درحدود هزاران زبان با تکلم کاملاً متفاوت وجود دارد که برعلاوه تفاوت تکلم به رسم الخط های جداگانه نیزتحریرمیگردد رسم الخط عربی ، انگلیسی ، روسی و چینایی رسم الخط های معروف جهان میباشند ، ناگفته نباید گذاشت که در داخل رسم الخط های که در فوق از آن تذکر به عمل آمد صد ها زبان معروف جهان شامل میباشند که ازجمله یکی زبان : دری افغانی : میباشد که به رسم الخط عربی تحریرمیگردد و از قدیم الایام در مناطق آسیایی مرکزی به آن تکلم میشد و نیزمادرزبان فارسی ایران کنونی وتاجکی ماورا النهرمیباشد فی الجمله زبان دری اززمان آریایی ها درافغانستان، ایران و ماورا النهرمتکلمین زیادی داشت ویک زبان باستانی است ، به هرصورت درمورد چگونگی زبان دری ، به جستجو گردآوری ومقدمه محترم مصطفی «عمرزی» کتابی بنام :دری افغانی ، تهیه وترتیب گردیده که درآن در ۲۷ عنوان و ۲۲۲ صفحه پیشینه و تمام سرگذشت زبان دری تسجیل گردیده است که به اندازه کافی درمورد زبان دری افغانی آموزنده میباشد ، درین کتاب زبان دری افغانی اززبان فارسی کنونی یک زبان کاملاً جدا و مستقل قلمداد گردیده و اطلاق نام فارسی به دری یک غلط محض خوانده شده است زیرا ایرانیان که دایم خودرا در تمام مسایل آقایون معرفی میدارند زبان دری را زاده زبان فارسی میدانند ، در ایران تلاش های گسترده ی فرهنگی و تبلیغاتی جهت تعمیم وگسترش زبان فارسی براه افتیده بود وهجوم نشرات و کتب ایرانی نیزبه افغانستان خاصتاً دردهه های (چهل تا شصت هجری شمسی ، ذهنیت های عامه رادرتألید نا آگاهانه ی کلمه ی (فارسی ) و ارجحیت آنرا به زبان :دری: دراندیشه جامعه شکل داده وبه عنوان یک اسم با مسمی ، جای گرفت . نفوذ فرهنگی ایران نه تنها درمحدوده اندیشه ها وزبان عام مردم جای گرفت بلکه حتی درسطح آکادمیک وتحقیقاتی نیزاثرگذاشت ونوشته ها وتحلیل های ادیبان ومحققین ادبیات دری را نیزبا این باورآماده ساخت تا برای زبان دری پیشوند :فارسی دری ، را بازگو کنند و ترکیب این کلمه : هویت زبان دری را درموازنه ی برداشت های انفرادی نویسنده گان قرار داد ، در دهه های هفتاد و هشتاد خورشیدی جنگ های خانمانسوز و گسترش اختلافات عمیق زبانی و قومی باعث شد تا دری زبانان افغانستان ناآگاهانه فارس زده شوند و پیوندی به آن طرف دهند این برنامه نفوذی فرهنگی نه تنها اصالت زبان مارا خدشه دار میسازد بلکه آینده گان مارا نیز در سرگردانی و بی هویتی قرار میدهند و نسل های آینده افغانستان نمی توانند با وضاحت و استدلال از داشته های فرهنگی و زبانی خویش به دفاع بپردازند کتاب سودمند دری افغانی یا پیشینه ومقال زبان دری که به اهتمام مصطفی عمر زی به زیورچاپ آراسته شده در حقیقت تحقیق گسترده بالای اصالت زبان دری افغانی میباشد این کتاب که توسط محترم عمرزی کمپوز و دیزاین نیز گردیده در مطبعه اسد دانش به تیراژ یک هزار جلد چاپ گردیده که حق نشرآن نیز برای ناشر محفوظ میباشد

## د پښتو قاموس څرنګوالی

دریمه او وروستۍ برخه

عبدالکریم (رحیمزی)

دلته مصدر نېودل شوی چې لازم فعلونه ترې اخیستل کېږي، خو زماني فعلونه یې له متعدي فعلونه سره نېودلي، چې مصدر یې تصمیمول دي

لومړی دا چې که چېرې په پښتو ژبه کې له یو مصدر څخه د بېلابېلو زمانو د فعلونو اخیستنه کومه ځانګړې قاعده نه وي او د قاموس په لومړیو پاڼو کې د ګرامر په برخه کې تشریح شي، بیا یې په قاموس کې یوازې د مصدر پر مدخل بسنه هم کېدای شي او یوازې له هغو مصدرونو سره دې اخیستل شوي فعلونه ولیکل شي چې ورڅخه د بېلابېلو زمانو د فعلونو اخیستنه کومه قاعده ونه لري دوهم دا چې ولې یوازې دا دې حالت لیکل شوی حال دا چې له یو مصدر څخه د نورو زمانو فعلونه هم اخیستل کېږي لکه

لرې تېره - کړنګولی یې دی ،

لرې تېره - کړنګولی یې و ،

تېره روانه - کړنګاوه یې ،

راتلونکې روانه - کړنګوې به یې ،

لرې راتلونکې - کړنګولی به یې وي. درېیم ولې له ځینو سره لیکل شوي او له ځینو سره نه؟ که د دوی لیکل اړین بلل کېږي، نو بیا کېدای شوای د فرعي مدخل په ډول تر اصلي مدخل لاندې په یوه لیکه کې لیکل شوي وای. د دې پر ځای چې د پاڼې ډېرې لیکې وړیاندې ډکې شي او د قاموس حجم ډېر شي همدې ته ورته له یو مصدر څخه فاعلي یا مفعولي اخیستل شوی نوم یا صفت نه بېل مدخلونه ورکړ شوي کریابول مص مت نه په همانیزه کلیمو دوې لیکې ډکې شوې او بیا بل ځای کریابوونکی فا، تر، م په همانیزه کلیمو مانا شوی دا کېدای شوای له کریابول څخه وروسته د فرعي مدخل په ډول یوازې نه ګرامري ځانګړتیاوو سره یې لیکل شوی وای لکه

کریابول مص مت

۱. اړول، محتاجول

۲. ځنډول

۳. بېکاره کول کریابوونکی

فا، تر، م

په پای کې د ښاغلي اسدالله غضنفر خبره د قاموس جوړونه ډېر ستونزمن کار دی او نیوکې آسانه که چېرې له داسې تېروتنو سره سره چې پښتو ژبې ته زیاتمې نه وي، بو بل افغان چې د افغانستان د علومو له اکاډمۍ سره یې تړاو نه درلود او خپل شخصي وخت او پانګه یې د داسې قاموس په جوړولو کې لګولې وای، دا به کوم داني ورته ویلې وای، خو دغه قاموس خوارلس ژبپوهانو لیکلی چې راز راز علمي رتبې لري او د هېواد په کچه د علومو اکاډمۍ له خوا څېړونکي شوي، دغو ژبپوهانو به خپل خومره سرکاري یا رسمي وخت د دې پر لیکلو تېر کړی وي او څومره تنخواوې به یې اخیستې وي، خو سوه چاپیرې چای او څومره پتاسې به یې چیچلې وي، خو د دې په بدل کې یې داسې څه هېوادوالو ته وړاندې کړې چې له لومړۍ پاڼې څخه نیولې تر وروستۍ پورې

له هر راز غلطیو څخه ډک یو پښتو تشریحي قاموس نه، بلکې د یو نیمګړې ځای دایرةالمعارف سربېره، د پښتو ژبې د ګړدودونو او بېلابېلو ژبو همانیزه داسې قاموس دی چې د پښتو ژبې د لاکمزورولو لپاره ډېر اغېزمن دی او کار اخیستونکي یې نه یوازې سړي، بلکې سرېدال هم شي. هیله ده چې نوی پښتو تشریحي قاموس دغې ستونزې او تېروتنې ونه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په لویو جرګو کې د افغان ښځو ونډه

ګل آغا احمدي

د افغانستان په سیاسي بهیر کې د ښځو ګډون ډېرې هسکې او ټیټې لرې او تر دې مهاله هڅکلنه د افغان ښځو ګډون د دوی د واقعي نفوس په تناسب په سیاسي بهیرونو کې په نظر کې نه دی نیول شوی او افغان ټولنه یوه نارینه سالاره ټولنه ګڼل کېږي. د افغانستان په تېر تاریخ کې له افغان ښځو سره دوه ډوله چلند شوی. په دې ډول چې یو شمیر حاکمانو او سیاسي رژیمونو افغان ښځو ته په سیاسي بهیرونو کې سمبولیک استازیتوب ورکړی او د ښځو د حقوقو ځینې برخې یې په رسمیت پېژندلې دي. دغې کټګورۍ حاکمانو د ښځو حقونو ته درناوي ځرګند کړی او د دوی حضور په سیاسي صحنه او لویو جرګو کې ضروري ګڼلی، خو د دې برعکس د افغانستان هغو حاکمانو، تنظیمونو، جنګي ډلو، رژیمونو، یا خوځښتونو د هېواد په سیاسي بهیر او لویو مجلسونو کې افغان ښځې په چورلټه توګه له سیاسي او ټولنیزو حقونو څخه بې برخې کړې چې دغه راز حقوق په رسمیت نه پېژني او د مختلفو دلایلو له مخې یې افغان ښځې په سیاسي محافلو کې له برخې اخیستلو څخه محرومې کړې دي. د لومړۍ کټګورۍ دمشرانو او رژیمونو له خوا د افغانستان په سیاسي بهیر او په ځانګړې توګه لویو جرګو کې د مېرمنو د سمبولیک استازیتوب د ځرګندولو په موخه یې هڅوی ته په لویو جرګو کې برخه ورکول یو دوه ګرځولی چې په دې لیکنه کې به یې یادونه وشي

**د غازي امان الله خان د وخت لویه جرګه**

د غازي امان الله خان دواکمنۍ پرمهال لویه جرګه چې په ۱۳۰۱ هجري لمریز کال یې د افغانستان د عالیه دولت د اساسي نظامنامې په نامه د افغانستان د دولت لومړنی اساسي قانون تصویب کړ، د وخت د پاچاه اعلیحضرت غازي امان الله خان د مېرمنې ملکې ثریا په ګډون یو شمیر ښځو هم د همدې جرګې د غړو په توګه په کې ګډون کړی وو او د دې جرګې د ټولو غړو شمیر ۱۰۰۰ ته وو





**د محمد ظاهرشاه د وخت لویه جرګه:** په ۱۳۴۳ کال کې چې د وخت د پاچاه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د ملت د بابا واکمني وه، د یوې لویې جرګې په ترڅ کې د افغانستان اساسي قانون تصویب شو په دغې لویه جرګه کې چې د غړو شمیر یې ۴۵۲ ته وو، ۴ ښځو استازو د پاچاه د فرمان پر بسپ پکې ګډون کړی و، چې ۲ یې د مشورتي کمېسیون د غړو په توګه او ۲ یې د انتصابي غړو له جملې څخه وې

**د محمد داودخان د وخت لویه جرګه:**

د افغانستان د لومړني جمهور رییس شهید سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال او د جمهوري رژیم په لویه جرګه کې ۱۲ ښځو ګډون درلود. دغه جرګه چې په ۱۳۵۵ هجري لمریز کال جوړه شوې وه، د ټولو غړو شمیر یې ۳۴۹ ته وو او سردار محمد داودخان یې د جمهور رییس په توګه تایید کړ

**د ببرک کارمل او نجیب الله د وخت لويې جرګې:** هغه لویې جرګې چې په ۱۳۶۴، ۱۳۶۶ او ۱۳۶۸ کلونو کې د ببرک کارمل او ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال جوړې شوې دي، د آغلې ثریا پرلیکا په وینا په یادو جرګو کې د ښځو حضور فعال وو او د غړو یوه برخه یې ښځینه وو تشکیلوله باید وویل شي چې آغلې ثریا پرلیکا هغه مهال د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند په ښځینه څانګه کې یوه فعاله غړې وه. دغه خبره د بي بي سي راډیو د پښتو او فارسي خپرونو په آرشیف کې ثبت ده

**د مجاهدینو او طالبانو د وخت غونډې** د اهل حل و عقد د غونډې په شمول هغه شمیر دیني او ټولنیزې غونډې چې تر مختلفو نومونو او عنوانونو لاندې له ۱۳۵۸ کال څخه تر ۱۳۸۰ هجري لمریز کال پورې مجاهدینو او بیا طالبانو د هېواد د ننه یا بهر جوړې کړې دي، د لویې جرګې نوم نه دی ورکړ شوی او په هغو کې د ښځینه وو دګډون اندازه صفر وه همدارنګه واک ته له رسېدو څخه د مخه د مجاهدینو د تنظیمونو په هر ډول سیاسي، تعلیمي، اجتماعي او هراړخیزو فعالیتونو کې د ښځینه وو د ګډون اندازه صفر وه او د افغان ښځو حضور نه یې په خپلو فعالیتونو کې هیڅ ډول ځای نه و، ورکړی کله چې په ۱۳۷۱ هجري لمریز کال په کابل کې د اروښاد حضرت صبغت الله مجددي او شهید برهان الدین رباني په مشرۍ د اسلامي دولت په نامه د مجاهدینو د ځینو ډلو واکمني پیل شوه نو ورسره سم په کابل او ځینو ولایتونو کې د جهادي تنظیمونو خپلمنځي کورنیو جګړو روږد وو. چې بیا هم ښځینه ووته د هېواد په سیاسي او اجتماعي نظام کې مناسب ځای نه و، له سیاسي او ټولنیزو چارو څخه محرومې شوې په رونو چارو کې یې د حضور او پرمختګ مخه ډب شوه طالبانو هم په خپلو لیکو او فعالیتونو کې د ښځینه وو د حضور لپاره هیڅ ځای نه درلود او کله چې په ۱۳۷۵ هجري لمریز کال د ملا محمد عمر په مشرتابه د طالبانو د اسلامي امارت واکمني په کابل کې پیل شوه نو ورسره سم یې نه یوازې دولتي او تعلیمي ادارو څخه د ښځینه کارمندانو، ښوونکو، محصلینو او زده کوونکو حضور په سیستماتیک او رسمي ډول ختم کړ

**د حامد کرزي د وخت لويې جرګې:**

له ۱۳۸۱ هجري لمریز کال وروسته په افغانستان کې د جوړو شویو او لویو جرګو په بهیرونو کې د ښځینه وو ګډون په دې ډول دی

۱ بېړنۍ لویه جرګه چې په ۱۳۸۱ هجري لمریز کال د ۱۵۰۱ کسانو په ګډون په کابل کې جوړه شوه، د ښځینه غړو شمیر یې ۱۶۰ کسانو ته رسېده د دې جرګې د جوړېدو په کمېسیون کې ۵ ښځو غړیتوب درلود، د جرګې مشر ښاغلی محمد اسماعیل قاسمیار غوره شو او آغلې سیما ثمر یې د لومړۍ مرستیالې په توګه و ټاکل شوه

۲ د اساسي قانون لویه جرګه چې په ۱۳۸۲ کال په کابل کې جوړه شوه ۵۰۰ غړي یې درلودل چې ۱۰۰ یا ۲۰ سلنه یې ښځینه غړو تشکیلول

۳ د افغانستان او پاکستان تر منځ د امن سیمه ییزه جرګه چې په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال په کابل کې د لویې جرګې په خیمه کې جوړه شوې وه، له افغانستان او پاکستان څخه ۷۰۰ غړو ګډون په کې کړی وو، چې د دواړو هېوادونو په غړو کې یو شمیر ښځینه غړي هم وې

۴ د سولې ملي مشورتي جرګه چې په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال په کابل کې د لویې جرګې په خیمه کې جوړه شوې وه ۱۶۰۰ کسانو ګډون په کې کړي وو، چې ۳۰۰ غړي یې ښځینه وې

۵ عنعنوي لویه جرګه چې په ۱۳۹۰ کال کې جوړه شوې وه، له ټول هېواد څخه ۲۳۰۰ کسانو ګډون په کې کړی وو چې ۱۸ سلنه یې ښځینه غړو تشکیلوله

۶ مشورتي لویه جرګه چې په ۱۳۹۲ هجري لمریز کال په کابل کې د لویې جرګې په تالار کې جوړه شوې وه، د غړو شمیر یې ۲۱۰۰ ته وو چې ۴۰۰ تنه غړي یې ښځینه وي

**په ملي بنسټونو کې د افغان ښځو ونډې**

ضروري ده، چې په دې ځای کې یو شمیر هغه سلنې یادې شي چې له ۱۳۸۱ هجري لمریز کال وروسته د لویو جرګو په شمول په ځینو ملي نهادونو کې د افغان ښځو دګډون لپاره په نظر کې نیول شوې دي لکه

۱ په بېړنۍ لویه جرګه کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۲۷ سلنه

۲ د اساسي قانون په لویه جرګه کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۲۰ سلنه

۳ په جمهوري ریاست، ملي شورا او ولایتي شوراګانو کې د ښځینه وو د ګډون ونډه ۴۰ سلنه

۵ د ولسي جرګې په وکالت کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۲۷ سلنه

۶ د مشرانو جرګې په وکالت کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۲۲ سلنه

۷ د سولې د ملي مشورتي جرګې په غړیتوب کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۲۵ سلنه

۸ د افغانستان په دولت کې د ښځینه کارمندانو ونډه ۲۴ سلنه

۹ د افغانستان د دولت په سطح د تصمیم نیولو ونډه ۹ سلنه

۱۰ د روغتیا په سکتور کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۲۴ سلنه

۱۱ د امنیت په سکتور کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۵ سلنه

۱۲ د عدلي او قضایي چارو په سکتور کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۱۰ سلنه

۱۳ د زده کوونکو د سکتور په برخه کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۳۷ سلنه

۱۴ د ښوونکو د سکتور په برخه کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۲۸ سلنه

۱۵ د محصلینو د سکتور په برخه کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۱۸ سلنه

۱۶ د پوهنتون د استادانو په برخه کې د ښځینه وو دګډون ونډه ۱۵ سلنه

د افغانستان د سرشمېرنې د ملي اداري د معلوماتو پر اساس د ملکي خدمتونو شاوخوا ۴۰۰ زره کارکوونکو له ډلې څخه ۹۰ زره یې ښځینه دي او په ۱۳۹۷ هجري لمریز کال کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازې هم ښځه ټاکل شوې ده

**اخځلیکونه**

۱ زنان افغان در ده سال ګذشته، لیکنه/ د افغانستان د رسنیو مرکز

۲ د افغانستان د احصایې مرکزي اداره، د ۱۳۹۷ هجري لمریز کال راپور

۳ افغان، ښکلا، د حامد کرزي په دوره کې د ښځو پرمختګ، لیکنه، ټول افغان ویب پاڼه،

۴ د ښځو چارو وزارت، بریښنا پاڼه،

۵ د ملګرو ملتونو د یونیفیم راپور

۶ بي بي سي راډیو، د پښتو او فارسي خپرونو ویب پاڼې

# په لغمان کې په نوي رنګ دودیزه پسرلنۍ مشاعره

د لغمان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د وري په اووم ماښام د هنري مشاعرې کوربه و. د روماني فضا، معطرې هوا او طبیعي مناظرو

ترخنګ، د مشاعرې دربخ او ټول چاپېریال په مصنوعي رڼاګانو سینګار و د مینه والو ګڼې ګوڼې او ازدحام، د مشاعرې کیف لا پسې زیات کړی. و له کابل، خوست، غزنی، ننګرهار، کونړ، میدان وردګو، لوګر او نورو ولایتونو څخه د راغلیو نوموتو شاعرانو په شتون کې، ماښام مهال مشاعره پیل شوه. د لغمان والي محمد آصف ننګ، مرستیال والي شهزاده مظلومیار، په علمي او ټولنیزو چارو کې د ولسمشرۍ مالي سلاکار لعل پاچا ازمون، دمحترم لام ښاروال لطیف الله الکوزي، ګڼ شمیر چارواکي او سلګونه شاعران، فرهنګپال او د شعر او ادب مینه وال د مشاعرې برخه وال وو. غونډې ته د پیل په خبرو کې، د اطلاعاتو او فرهنګ رییس فیضان الله پټان وویل ،چې سږنۍ مشاعره له نورو څخه له جلا خونده برخمنه څکه ده، چې هم په کې د شاعرانو او مینه والو شمیر ډېر دی او هم به په کې د لحاظ هنري ماښام وي، د ډېر تولو شاعرانو غړو کړ چې په اشعارو کې دي د احساساتو پر ځای هریت ته نوموړتوب ورکړي. د لغمان والي د مشاعرو او دغه شان ادبي محفلونو پر اروبت وغږېږد ده وویل چې دا او دي ته ورته مشاعرې له یوې خوا د ادب د مینه والو ذوق ورخړوبوي او له بلې خوا د فکري روښنیا او د عامه اذهانو د تنویر لپاره ښې وسیلې دي د مشاعرې لومړی شعر نوموتي شاعر، ذبن الدین حقبار ووایه وریې، د پردې تر شا د برمې موسیقي په بدرګه، ګڼ شاعران سټېج ته راغلل او خپل نظمونه، غزلې او نور اشعار یې د ډکلمې او ترنم په ډول پرله پسې وړاندې کړل د مشاعرې په بله څنډه کې، پر یوې لویې سپینې پردې، د هېواد او په ځانګړې ډول د لغمان د ادبي، فرهنګي، هنري او علمي هستیو او مشاهیرو تصویرونه او نومونه یو په بل پسې رابسکاره کېدل که څوک به له مشاعرې راپهر کېده، د تفریح او هنر دې منظر یې پام ارولی شو په منځ کې د لعمان تیاتر د لوبغاړو له لورې د پښتو خرافاتي فلمونو پر موضوع یو تمثیل هم وړاندې شو چې ګډونوالو یې فن او هنرنمایي وستایله مشاعره تر ماسخوتنه وغزېده شاعرانو اشعار ویل، ترنمونه یې کول او ناستو مینه والو به په خوند او چکچکو بدرګه کول، خو چې مشاعره ختمه شوه، معنا یې دا نه وه ،چې دا رنګین ماښام دې هم پای ته ورسېږي همدا چې محلي مشهور سندرغاړي پاچا خان پر سټېج رابسکاره شو، د مینه والو چکچکې شوې او د برم او رومان یوه نوې برخه پیل شوه خان ګېې محلي سندرې وویلې او د طبلې، ارمونیې او رباب په سر او تال کې یې د ملنګ خان، محمدنوربابا او حیاخان استاد شعرونو ته سادګانې ورکړې د شپې شاوخوا ۱۲ بجې دا هر څه پای ته ورسېدل ،خو مېلمنو او کوربنو له دې هنري ماښامه خوند واخیست چې په زړه پورې خاطرې به یې تېر څېره د هېرېدو نه وي سمسور لغمان پسرلنۍ مشاعره یوه دودیزه مشاعره ده ،چې هر کال د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لورې، د دې ولایت د فرهنګیانو او مدني فعالانو په همکارۍ جوړېږي او د نورو ولایتونو له دودیزو میلو او مشاعرو سره یې ښکاره توپیرونه دا دي ،چې هم فرهنګي تنوع لري او هم یې فنکارۍ او هنرۍ خانګړې دی. نظر افغان

# د هالیوود ستورې د مهاجرو په کمپ کې یوه اوونۍ تېره کړې

د هالیوود امریکايي ستورې کتي هولمز، له خپلې ۱۲ کلنې لور سورۍ، سره یوه اوونۍ د یونان په لیسبوس ټاپو کې د مهاجرو په موریا کمپ کې تېره کړې ده همدا اوس د یونان په ټاپوګانو کې په زرګونو پناه غوښتونکي اوسېږي هولمز د شنبې په ورځ پر خپلې انسټاګرام پاڼې باندې ولیکل «زه له دې کله مننوېه یم چې له دې اغیزناکو ښځو سره د آشنایی اوګډ کار تجربه ولرم دې وویل دغه ښځې چې په بېلابېلو پروژو کې یې ورسره همکارې کړې، پرې ډېرې ګرانې دي هولمز لیکلي «د هغوی د مقاومت څواک بستیز او الهام بخښوونکی دی دغې امریکايي هنرمندې پر خپلې انسټاګرام پاڼې باندې د سورۍ انځورونه هم خپاره کړې دي ۱۲ کلنه لور یې د هغې او د ټام کروز د واده ثمره ده رسنیو ویلي د دې امکان شته چې په یونان کې د مهاجرو د وضعیت په اړه یو مستند فلم جوړ شي په یوه خپور شوي انځور کې ښوول شوي چې د نقاشي په یوې پروژې کې د هغې د ګډون پر مهال کمرې د هغې فلم ثبتوي.دا په داسې حال کې ده چې ډېر شمیر سیاستوال د مهاجرو له ګڼې ګوڼې ډکو کمپونو ته د ننوتو او هلته د فلم ثبتولو اجازه نه لري همدا اوس د یونان په جنوب کې پرتو ټاپووزمو کې شاوخوا ۱۵ زره پناه غوښتونکي اوسېږي، خو په اصل کې دغه کمپونه یوازې د ۳۱۰۰ پناه غوښتونکو له پاره جوړ شوي دي د دې کمپونو ۲۰ سلنه اوسېدونکي ښځې دي او ۳۰ سلنه نورې یې داسې ماشومان دي چې ډېر شمیر یې تر ۱۲ کلنۍ کښته دي له ځینو سره یې آن داسې مشران هم نه شته چې ساتنه یې وکړي



ننني پاڼې چارواکی: صفي الله مايار

# د سپورټ نړۍ

## په افغانستان کې په نوې بڼه کرېکټ پیلېږي

د افغانستان د کرېکټ د ملي لوبډلې د نکره چټک توپ اچوونکي حمید حسن په همکارۍ په افغانستان کې د شل اوریزو سیالیو لیګ په نوې طرز او بڼه جوړېږي. دغه لیګ چې د پرې، له نورو ټولو لیګونو مختلف وي، په دې کې به هره لوبډله اته لوبغاړي لري، شل اورونه به یې وي، خو هر ځل به پنځه توپه وي. په یو وایډ بوه منډه، خو په دوېم وایډ شي. حمید حسن رسنیو ته ووېل، چې له دې دول کرېکټ سره به هغو لوبغاړو ته هم چانس ورکړل شي چې د شپږېزې لیګ او د افغانستان پریمیر لیګ سیالیو ته پاتې شوي

«Last man stand» یعنې وروستي لوبغاړي لوبېږي. نوم ورکړ شوی، د افغانستان له کرېکټ بورډ او نورو بورډونو څخه یې د جوړېدو جواز ترلاسه کړی او ډېر ژر به پیل شي. دغه لیګ اصول او قوانین به توپ به درې منډې حسابېږي، همدا ډول که په وروستي توپ شپږېزه ووهل شي هغه به ۱۲ منډې حسابېږي. په دې لیګ کې به وروستي یوازې پاتې لوبغاړي Last man) هم توبوهه کولای دي. د باډونې ور ده، چې دغه لیګ به د پرې په ۱۲ نورو هېوادونو کې هم وشي. خو تاکل شوې چې په افغانستان کې به یې لومړۍ سیالۍ د راتلونکي جون میاشتې پرمهال وشي.

## محمد نبي د ډېویلیئرز په ګډون لوبه کې څلور وېکټې واخیستې

د هند په غوره لیګ کې د حیدر آباد او بنګلور لوبډلو ترمنځ په سیالۍ کې محمد نبي چې د آی پي ایل په دوهم پړاو سیالیو کې یې لومړۍ لوبه کوله د اې بي ډېویلیئرز ستري وېکټې په شمول څلور وېکټې واخیستې. په دغې سیالۍ کې چې لومړی توبوهه د راشد او نبي لوبډلې وکړه، جوني بیرسټو او ډېوید وارنر په زړه پورې لوبه ننداري ته وړاندې کړه دواړو لوبغاړو سلېزې ووهلې او سیالۍ لوبډلې ته یې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې ۲۳۱ منډې هدف وټاکه. په ځواب کې د بنګلور لوبډلې غوښتل چټک پیل وکړي، خو محمد نبي د خپل لومړي ځل په وروستي توپ وېکټه واخیسته. د دوېم اور په لومړي توپ یې دویمه وېکټه واخیسته. خو په بل توپ یې هېټرېک مس کړ. ډېویلیئرز چې په پړوانه کچه ستونکی توبوهونکی دی غوښتل پر محمد نبي شپږېزه ووهي، خو بولډ اوټ

شواو. په دریم ځل کې یې څلورمه وېکټه هم وسوځوله. چې په دې سره یې په ۴ اورونو کې د ۱۱ منډو په بدل کې ۴ وېکټې واخیستې. بو لوبغاړي یې رن اوټ کړ او بل یې سټمپ شو. د بنګلور لوبډلې د سر هدف تعقیبولو په ځواب کې د

ټولو لوبغاړو په سوځېدلو یوازې ۱۱۳ منډې جوړې کړې. د دوی له خوا زیاتې ۳۷ منډې ګرانډهومې جوړې کړې. همدا ډول راشد خان په خپلو څلورو اورونو کې ۲۵ منډې ورکړې. خو په کومه وېکټه اخیستلو بریالی نه شو، خو نوموړی

یو لوبغاړي رن اوټ کړ. د دې غوره لوبغاړي جوني بیرسټو ونومول شو. نوموړي د ۷ شپږېزو او ۱۲ څلورېزو په مرسته ۱۱۴ منډې جوړې کړې. بنګلور لوبډلې یوازې د بیرسټو منډې هم شپږې نشوای کړای او د ۱۱۸ منډو په توپیر یې ماتې وخوړه.

## په ای پي ایل کې بریاوې راشد خان

د افغانستان د ملي لوبډلې تکړه او سوکه توپ اچوونکی راشد خان په بیګ باش لیګ کې د خپلې لوبډلې اډلیډ سټرایکرز له خوا په پرله پسې ډول په دوېم وار له ټولو ارزښتناک لوبغاړی ټاکل شوی. د اډلیډ سټرایکرز لوبډلې پر خپله ټوېټر پاڼه د راشد خان د غوره وېکټو اخیستلو ویډیو خپره

۲۰۱۹م کال له ټولو ارزښتناک لوبغاړی دی. راشد خان په ۲۰۱۸-۲۰۱۷م کال کې هم د خپلې لوبډلې له ټولو ارزښتناک لوبغاړی ټاکل شوی و. راشد خان هم په دې اړه خوښي ښودلې او

خوښ یم چې یو وار بیا د بګ باش په ټورنمنټ کې د خپل ټیم سټرایکرز لپاره د کال ارزښتناک لوبغاړی غوره شوم. خپل ټیم او مینوالو ته مبارکي وایم. ستاسو له دعاوو او نیکو هیلو مننه. د راشد خان لوبډلې د نوموړي په مرسته د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ بیګ باش سیالیو اتلولي خپله کړې وه. نوموړي په دغه پړاو کې ۱۸ زیاتې وېکټې اخیستې وې. خو په تېر پړاو کې چې نوموړي یو وار بیا له بادي لوبډلې سره غوره توپ اچونه ننداري ته وړاندې کړه. خو لوبډله یې ژر له سیالیو بهر شوه. د بیګ باش اووم پړاو سیالیو چې

په ۲۰۱۸-۲۰۱۹ کال کې ترسره شوې دا وار د محمد نبي لوبډلې اتلولي وګټله. نوموړي د خپلې لوبډلې په ګټه د آخراوډر په حیث لوبه ترسره کړه چې کامیاب ثابت شو. پر راشد خان او محمد نبي سربېره سږکال په یاد لیګ کې مجیب ځدران او قیس احمد هم

ولوبېدل. مجیب د برېزبن هیټ او قیس د هوبارټ هوریکنز لوبډلې په ګټه ولوبېدل چې به وځلېدل.

د بول خبر له مخې

د هند غوره لیګ سیالیو د دوهم پړاو په اتمه لوبه کې د سرایزرز حیدر اباد او راجستان رائلز

لوبډلې مخامخ شوې چې په کې سرایزرز لوبډلې د راشد خان په مرسته سیالۍ لوبډلې ته د ۵ وېکټو په توپیر ماتې ورکړه. د سرایزرز لوبډلې ارزښتناک لوبغاړي راشد خان د خپلې لوبډلې په ګټه له ۱۹۸ منډو څخه په خپلو څلورو اورونو کې یوازې ۲۴ منډې ورکړې او د حریص بتلر مهمه وېکټه یې واخیسته. راشد خان په هند غوره لیګ د بتلر پر وړاندې ریکارډ لري. نوموړي بتلر ته ټول لس توبونه اچولي. ۳ یې نري منډې جوړې کړي. خو څلور ځلې یې سوځولی دی په یاده لوبه کې لومړۍ د راجستان لوبډلې توبوهنه وکړه، چې د سنجې سمسون او لوبډلمشر اجنکي رهاني په مرسته یې په ټاکلو شلو اورونو کې د ۲ لوبغاړو

په سوځېدلو ۱۹۸ منډې جوړې کړې، سنجي سمسون د روان کال آی پي ایل لومړۍ سلېزه ووهله. په ځواب کې د ډېوېډ وارنر او جوني بیرسټو برق رفتار توبوهنې سرایزرز لوبډلې ته چټک پیل ورکړ، خو په وروستیو کې چې لوبه یو څه سخته شوې وه راشد خان پرله پسې څلورېزه او په زړه پورې شپږېزه ووهله چې لوبډلې ته یې بو اوږ وړاندې بریا ورکړه. نوموړي په هر اړخیزه لوبې کولو سره د لوبې غوره لوبغاړی هم ونومول شو. تر دې دمه د راشد خان لوبډلې ۲ سیالۍ ترسره کړې چې یوه کې یې ماتې او دویمه کې بریا خپله کړې ده. دده سربېره د مجیب الرحمن پنجاب لوبډلې هم د دوو سیالیو څخه یوه بایللې او یوه کې بریا خپله کړې ده.

کړې او وېلي یې دي چې راشد خان د یادې لوبډلې د ۲۰۱۸-۲۰۱۹ خپلې لوبډلې او مینوالو ته یې مبارکي وېلې، نوموړي کابل

## سپورټ د انسان په بدن کې ډار او وېره کموي

د ا یو څرګند حقیقت دی چې سپورټ د بدن د روغتیا لپاره هغه موثره اوله اهمیته وقایه ده چې په وړیا ډول د انسان روحي او جسمي سلامتیا برابروي، نوبه همدې خاطر ددې لپاره چې ورزشکاران ښه وهڅېږي هرهېواد په مختلفو رشتو کې د دوی لپاره لوړه بودجه تخصیصکوي ترڅو لوبغاړي یې هم د خپل هېواد او خان په ګټه ښه تمرین وکړي او یا هم د کوم بل هېواد د لوبغاړو په وړاندې د سیالیو په ډګر کې وروسته پاتې نه شي، لړیوالې ورزشي سیالۍ د هېوادونو ترمنځ نهایت لوړملي او نړیوال اهمیت او ارزښت لري، ځکه (آنلاین) د رسنیو له لارې خپرېږي او په میلیونونو کسان یې تماشا کوي، ګټونکي یې په لوړه کچه نازول کېږي او بایلونکي لا ډېر تمرین ته هڅول کېږي، خو په حقیقت کې ورزش ددوو موخو لومړی د بیلابیلو دقبوي کېدنو، ښې روغتیا، روحي او ذهني تسکین، دوهم په ملي او نړیوالو ورزشي سیالیو کې د ګټلو لومړو خلیدو په موخه ترسره کېږي. موږ د ورزش دملي جسمي او روحي ګټو په اړه د هېواد د سپورټ له تکړه ترینر او مربي ښاغلي محمد طارق (صابر) سره مرکه کړې چې ستاسې پام یې لوستلو ته را اړوو. ښاغلي صابر په وینا څرنګه چې هېوادونو له

پخوا سره د جګړې په ډګر کې د تورو په ذریعه زورآزمایي کوله چې په دې کې لوړه مرګ ژوبله رامنځ ته کېده، یا به هم بېګېلي خواوې یو بل ته نه تسلیمېدلې خو د زمانې په تېرېدو سره به څینو مرکو کې، څېره ددواړو لوریو ترمنځ ددوو کسانو تن په تن زور آزمایي ته را ورسېده چې په دې سیالۍ کې به ددواړو خواوو لښکرې آرامې پاتې او یلې خواته ودرېدې او دوو کسانو چې یو به له یوې او بل به له بلې غاړې څخه و د تن په تن سیالۍ ډګر ته را ووتل او هر لوری به چې مغلوب شو، نو د مرکې مغلوب به هم ګڼل کېده، د زمانې په تېرېدو سره دغو سیالیو ورو ورو خپل ځای داسې سیالیو ته چې پرته له دې چې لښکرې را غونډې شي ددوو تنو او یا له هرې خوا څخه د سیالیودتوعیت په اقتضا د څو څو تنوسیالیو ته چې کېټ مټ د همغو رزمي سیالیو په میزان له اهمیت څخه برخمن اوبه همغه اندازه په استقبالېده پرېښود چې اوس هغه روایت په ملي او نړیواله کچه له رزمي سیالیو څخه ورزشي سیالیونه ځپل ځای

پرېښود. دا سیالۍ نه یوازې ملي او نړیوال افتخارات لري، بلکې بخپله د ورزشکار د بدن سلامتیا پرې تامین وي. ښاغلي (صابر) ووېل ورزش مرسته کوي چې ښه او آرام خوب وشي، کېدای شي دا خبره څینو خلکو ته د منلو وړنه وي، خو د ورزش او خوب په هکله چې کوم نوي څېړنې او پلټنې شوې په کې ثابته شوې چې که څوک په یوه اوونۍ کې درې یا څلور ورځې پرله پسې له شلوڅخه ترڅېرشو دقیقو پورې آزاد او په خپل زړه تمرین وکړي ښه په زړه پورې

آرام او ژور خوب کولای شي د طارق وینا ده چې ورزش دژر را رسېدونکي بوډا توب مخه نیسي اود ناڅاپي مرګ مخنیوی هم کوي، ځکه هرڅومره چې عمر لوړېږي منظم ورزش کول بدن دلې روغ رمټ او قوي ساتي چې د میکروبونو زورنه پرې رسېږي، نو طبعا کله چې د میکروبونو مخه ونیول شي د ناروغیو مخنیوی هم کېږي، ورزش هډوکي مضبوطوي او عضلات قوي او سالم ساتي چې په اسانۍ سره د فزیکي کمښتونو شکار هم نه کېږي هغه

حیات الله حلیم

په هډوکو مضبوطولو او عضلاتو د سپورټ د لا اغېز مثبت په اړه ووېل په منظمه توګه ورزش کول یو ښه او په زړه پورې عمل دی کومې ستونزې چې په عضلو او هډوکو کې شته هغه له منځه وړي که د یو منظم مهالوېش له مخې ورزش وشي جسمي پیاوړتیا ته مونښت هغو خلکو ته چې دوی ورزش نه کوي زیانه وي او خپلې ورځنۍ چارې به په ښه توګه مخ ته وړي

د ښاغلي صابر په وینا ورزش حافظه قوي کوي او ذهني تسکین را منځ ته کوي په اوونۍ کې د دریو ورځو لپاره ۴۵ دقیقې په پښو مزل کول د زړګي او ښه فکر کولو سبب کېږي. څېړنو ثابته کړې کوم خلک چې په منظمه توګه تمرین کوي د لوړفکري تمرکز څاوندان وي او ددې ترڅنګ ورزش پر مغزو هم مستقیم مثبت تاثیرلري، ځکه د مغزي تمرکز برخه پیاوړې کوي او روحي آرامتیا او ذهني تسکین را منځ ته کوي د طارق په وینا کوم کسان چې دوامداره او منظم تمرین

کوي همېشه خوشحاله او مثبت فکر کوي او د سوماني احساس ورسره نه وي، ځکه په بدن کې یې نومره عبنلتوب وي چې خپلې ټولې فزیکي بېمګړتیاوې پرې کنټرول کړي ورزش

ژوندانۍ، له آزادۍ څخه خوند او لذت اخیستل، د ډار او وېرې کموالی، د ذهني قدرت زیاتوالی د حافظې قوي کېدل، د ښه یې توکو په وړاندې د ځان ساتنې توان، د تسکین او آرامتیا



عصبي فشار او خستګي له منځه وړي اوبه کلکه ددې سبب کېږي چې وېره له منځه یوسي په دغه حالت کې، بدن له دوو ساعتونو تمرین وروسته د اعصابو د تسکین لپاره اندروفین تولیدوي چې د آسودګۍ سبب کېږي او د بدني فعالیت لپاره یې بله فایده داده چې خوراکي رژیم برابروي ښاغلي محمد طارق صابر د خپلې مرکې په پای کې ووېل چې ورزش په لاندې ډول دوونس ذهني ګټې هم لري د وېرې کموالی، د خوشحالۍ زیاتوالی، په نفس د باور

ډېروالی، د فزیکي قدرت او انرژۍ زیاتوالی، د خلاقیت ذهنیت، پر نورو د سم تاثیر لوېدل همدارنګه د یو شمېر ګټو ترڅنګ یو نه ورزشکار په ملي کچه د لوبې د ګټلو په صورت کې د خپل ټیم د سرلوړی او همدارنګه په نړیوالو سیالیو کې په ګټون او د لوبې په ګټلو سره د خپل هېواد د افتخار او سرلوړي سبب کېږي او ملي او نړیوال نوم خپلوي د صابر په وینا یوازینی څه چې هیڅکله نه پېښېږي او له جانبي عوارض را منځ ته کوي هغه سپورټ او تمرین دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېر کال د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون ۳۰۴۹۹ کسان پر دندو گمارلي

په تېر کال په کابل او ولایتونو کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون ۳۰۴۹۹ کسان د دولت په بېلابېلو ادارو کې پر دندو گمارلي دي.

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون مشر ښاغلي احمد نادر نادري پرون د دغه کمېسیون د کنفرانسونو په تالار کې د یوې غونډې په ترڅ کې خبریالانو ته وویل د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون هڅه کړې چې په دولتي ادارو کې د انساني ځواک د گمارنې په برخه کې یوه ، ورتیا، رښتینولۍ او موخه په پام کې ونیسي دغو هڅو پر کمېسیون د خلکو باور او اصالت لوړ کړی او دیوکراسی له امله رامنځ ته شوی فساد کمولی شي.

په ۱۳۹۷ لمریز کال کې په ټولیزه توګه په مرکز او ولایتونو کې ۵۴۷ تنه په لوړ رتبه لومړیو او دریمو بستونو کې ۴۲۸۳ تنه د منځنۍ کچې مدیریتي دریمو او څلورمو بستونو کې اوددې ترڅنګ د ملکي بستونه ، په مرکز او ولایتونو کې د ۱۴۵۵۱ کسانو لپاره او په اوومو او اتمو بستونو کې ۱۱۱۱۸ تنه په دندو گمارل شوي ، چې ټول شمیر یې ۳۰۴۹۹ تنو ته رسیږي.

ده څرګنده کړه اصلاحات یوه دوامداره او پرله پسې پروسه ده فعاله او اغېزمنه اداره خلکو ته خدمت کول او دولمدار هڅو او کارونه اړتیا لري داهڅې د یوې شپې، یوې اوونۍ ،یوې میاشتې او یوه کال لپاره نه دي ،بلکې کلونه کلونه زیار او خلي وشوي ،چې دغه اداره په یوه خدمت گذاره اداره واړول شي اوددې ترڅنګ دوظیفوي اړتیاوو په پام کې نیولو سره خدمات وړاندي کړي

فعالیت غواړي په هره کچه چې یوه تولنه پرمختګ کوي په هماغه کچه پېچلې غوښتنې او اړتیاوې پیدا کوي

د اداري اصلاحاتو اړتیا او دوام مهم دی عامه اداره هغه مهال کولای شي هېوادته پرمختګ وربه برخه کړي چې له شرایطو سره خان یو شان کړي، نو په دریو اړخونو باندې دغه کمېسیون تمرکز کړی او لومړی اړخ: د اداري فرهنګ بدلون و، چې له فرد محور څخه بناري محور اوخدمتونو په پام کې نیولو سره خپل فعالیتونه عیار کړي تېرکال لومړی ځل په کمېسیون کې هلې

دغه کمېسیون هڅه اوهاند کوي چې دا فرهنګ نورو ادارو ته هم ولېږدوي ،چې تلپاتې اونهادینه شي

ده د الکترونیکي گومارنې په اړه څرګنده کړه دا داري اصلاحاتو اوملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون په دولتي ادارو کې دمملي اصلاحاتو په برخه کې د یوه قانوني سبب په توګه ، دالکترونیکي گومارنې په برخه کې لوی گام پورته کړی دی دغه کار دگمارنې په بهیر کې دانساني لاسوهنې اوسرغړونې دکموالي او د روښیا د رامنځ ته کېدو لامل شوي اویه پایله کې دوضعیت د ښه والي سبب کېږي دبلګې په ډول لوړ رتبه لومړي اودویم بستونه دالکترونیک سیستم له لارې آزادې سیالۍ ته وړاندې کېږي په لومړي قدم کې هوښتونکي دخوښې وړ بست کودسیتم ته ورکوي اویه اتومات ډول د بست سرلیک د اړوندې اداري نوم دبست موقعیت سیستم ته داخلیږي او دنذکرې د معلوماتو ،لوړ زده کړو ،کاري تجربې، وړتیا او دریغرلسونو دلیست وار زارسرېرې دارتیا وړ سندونه لکه دنذکرې کاپي، تحصیلي اسناد، د قرار داد سند اوساهم دغوښتونکي دولتي سوانح سیستم ته زیاتیږي ، چې دمعلوماتو دلیست د پروسې له بشپړېدو وروسته نوماند ته داسنادو د رسېدلو تاییدي بریښنالیک لېږل کیږي

ښاغلي نادري دملکي خدمتونو دکارکوونکو د روزنې په اړه وویل دکمېسیون دملکي خدمتونو انستیتوت په ۱۳۹۷ لمریز کال کې ۶۵۴۰ تنه دملکي خدمتونو کارکوونکي دهېواد دننه روزلي اوهمدا راز ۸۶۳ کسان یې له هېواده بهر د روزنې لپاره استولي دي دملکي خدمتونو کارکوونکو ته دانګلیسي ژبې، دکمپیوټر مهارتونه ،مدیریتي مهارتونه د رسمي لیکولو څرنګوالی، دملکي خدمتونو له قوانینو اومقرراتو څخه خبرتیا ، الکترونیکي حکومتولي ،دفساد پروړاندې مبارزه او نورو برخوکې روزنې ورکړل شوي

ښاغلي نادري داگیزه کړه بخوا د گمارنې او استخدام پړاو ۸ میاشتې موده نیوله ،خو دا پړاو اوس ۴۵ ورځو ته راټیټ شوی دی

ده دیوونکو د بستونو په اړه وویل دیوونکو د ټاکلو بهیر دپلي کولو لپاره ۱۵۰۰ بستونه اوهمدارنګه د ۵۵ پنځم اوشپږم بستونو کار رواں دی دهېواد په ۲۰ ولایتونو کې دیوونکو بستونو بهیر دیوې اوونۍ په موده کې پلي کېږي

سربېره پردې د ۵۵ پنځم بستونو ټاکنه د ورې میاشتې تر پایه پورې بشپړه کېږي د اداري اصلاحاتو کمېسیون مشر وویل دعدالت په پام کې نیولو سره کمېسیون ۳۴۸۶ شکایتونونه رسیدګي کړې او دغه پړاو یې ساده کړی دی

محبوب

## زلمی خلیلزاد لارې ته سم کړای...

په اړه خپل دریځ روښانه کړ امریکایان که هرڅومره لوبه وکړي، خو په ضمن کې زیات هوښیاران څکه دي چې مخکې له دې پرېکړه وکړي، یوخل د اکثریت عکس العمل ته گوري اوس مهال بهیر خو محدودو ډلبوروچیانو، د هیچا خوښه نه ده، چې موقت دولت دې جوړ شي، څکه دا حل لاره نه شي کېدای، اوس امریکا په دې پوهېدلې شوه چې د ملت له ارادې پرته بل څه نه شي تمثیل کېدای څکه نو خلیلزاد ته لارښوونه کېږي چې له خپل مخکني موقف څخه تېر شي خلیلزاد ورمه ورځ په ډاګه کړه چې سوله لري ده او باید راتلوونکو ټاکنو ته چمتووالی ونیول شي یعنې ډېر لوی تغییر په موقیف احمدا او خبرو کې راغلی دی څکه تردې وړاندې د خلیل زاد په پلان کې هیڅ ټاکنې مطرح نه وې یوازې

د سولې هوکړه او ورسره په څنګ کې د ده په لوبه « موقت دولت » چې دا یوه افغان ته هم د منلو وړ موضوع نه وه. امریکا او خلیل زاد په دې پوی شوې چې محب خپله غوښتنه نه، بلکې د ملت غوښتنه بیان کړې، څکه هیڅ افغان په دې باور نه دی، چې موقت حکومت دې ښه بدیل وي، د لنه هر افغان ته یوازې تجربې دا وایي که موقت وي یا اوسنی حکومت، خو بیا هم لوبغاړي امریکایان دي او دې ته اندېښنه لري چې موقت دولت د یوې بلې ډرامې پیل ونه اوسي له کله نه چې محب خپلې څرګندونې کړې، نو امریکا او چارواکي یې د ارګ پر خای پر سپېدار څرخېږي چې د لنه هم یوازې پر غوښتنه اکتفا شوې ،که چېرې

داسې نه وي، نو تردې وړاندې د امریکا لپاره ارګ د مشورو ښه خای و. خلیلزاد اوس د یوه منځلارې په توګه عمل غوره کړی، څومره چې یې طالبان پښولې اوس یې دولت هم پښوي له ولسمشر محمد اشرف غني سره یې لیدنه د یوه بدلون له مخې کړې، څکه تردې وړاندې داسې څه نه وو شوي چې خلیلزاد به خپلې ټول مالومات ورسره شریکوي. تراوسه هیڅ باور نه کېږي چې دی دې په شپږم پړاو خبرو کې هم وکړای شي چې له طالبانو سره هوکړو ته ورسیږي، ترڅو چې طالب لوری بین الافغاني خبرو ته حاضر نه شي، نو امکان نشته چې پردې به مو پخلا او سره کېښنوي د هغوی یوازنی هدف په افغانستان کې جګړه ده.

## په افغانستان کې مثبت گامونه اخیستل شوي...

دوام کوي. د سې شنې په ورځ د سېښې مانۍ په غونډه کې ولسمشر ټرمپ وویل: هېواد یې د ناټو ترون ته ټینګ تعهد لري، خو نومونړ پر یو شمېر هېوادونو انتقاد وکړ چې د دغه ترون په لګښتونو کې خپله برخه په سمه توګه نه ادا کوي. نوموړي په خاکړې توګه د حرمنۍ یادونه وکړه او

ویې ویل چې په ناټو کې د هغه هېواد مالي ونډه بیخي کمه ده. د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ هم په لنډه ویسا کې په عراق او سوریه کې د داعش ډلې د ماتې یادونه وکړه، خو ټینګار یې وکړ چې دا ډله په بشپړه توګه له منځه نه ده وړل شوې. ینس سټولټنبرګ همدارنګه په افغانستان کې د

امریکا هڅې وستایلې او ویې ویل: « موږ پر دې کلک باوري یوو چې په افغانستان کې د کړکېچ او جګړې د سوله‌ییز هوارې لپاره د امریکا د هڅو ملاتړ ډېر مهم دی، موږ د دې هڅو ملاتړ کوو » د ناټو د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران پرون چهارشنبه په داسې حال کې د افغانستان په اړه بحث ته کېناستل چې په هېواد کې د بل هر وخت په پرتله د سولې هڅې زیاتې شوې دي.

## ارمان لوڼي څنګه د پولیسو د مشر په امر شهید...

د دوام او پر نورو قومونو یې د حېثي اچولو د لړۍ د پراختیا په موخه پنجابي ملېشو د هر هغې کورنۍ کسان او محکس غړي وژلي او ساپې زوندي ورک کړي،

مشر منظور پښتین ویلي، پاکستاني ریاست لا هم د دغه غورځنګ د فعال غړي ارمان لوڼي

سنګاوي اوسپډونکی و او په پښتون ژغورنې غورځنګ کې دومره زیات فعال و، چې نه

چې له پنجانه یې د خپلو حقونو او ازادۍ تر لاسه کولو لپاره غږ پورته کړی دی. څه موده وړاندې د پښتون ژغورنې غورځنګ

قاتل نه دی پیدا کړی او دا قصیه یې تې له خپلو همداسې پرې ایښې ده ارمان لوڼي چې اصلي نوم یې محمد ابراهیم و، د

یوازې د ننګ میدان ته پخپله راوتلی و، بلکې خپله خور ورانګه لوڼي یې هم له ځان سره د ننګ میدان ته راوستې وه

## په ملکي ادارو کې د ښځو شمېر...

دا شمېر ۲ سلنې ته لوړ کړي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون رییس هغو ستونزو ته په کتو وایي، د دغه دوډونو پر وړاندې جدي اقدامات کړي او اوس تر ډېره د مامورینو د گمارنې په برخه کې د هغوی کاري وړتیا ته پاملرنه کېږي. په ملکي ادارو کې د

اصلاحاتو پروګرام پر وړاندې په حکومت کې هم ستونزې شته. د تېرکال په وروستیو کې، چې دغه کمېسیون د بهرنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو بهیر د پلي کولو لپاره اقدام وکړ، د وزارت د لوړ پوړو چارواکو د مخالفت سره مخ شو او د اصلاحاتو بهیر په دغه وزارت کې پلي نه شو

په کابل او ولایتونو کې په ادارو کې د طالبانو د رژیم د ړنګېدو سره سم پخوانیو مجاهدینو د حکومت اکثرو مامورینو لښ ملکي او نظامي بستونه ډک کړل، چې ورسره د هېواد اداري تشکیلات د ډېرو ستونزو سره مخ شو اوس مهال د افغانستان په ۴۲ ملکي ادارو کې څلور لته څلورویشت زره مامورین په دنده بوخت دي. د دې شمېر ۳,۷۲ سلنه یې ښځې دي.

# افغان اعلانات

◇ ◇ ◇ ◇

موسسه افغان‌های متاثر از ماین آلسو یک موسسه غیر دولتی، غیر سیاسی و غیر انتفاعی با شماره ۹۹۳، وزارت اقتصاد جمهوری اسلامی افغانستان به حیث یک موسسه داخلی ثبت می‌باشد.

موسسه آلسو یک عراده موتر تویوتا لندکروزر فرسوده خویش را به تاریخ ۱۳۹۸/۱/۱۹ به لیلام می‌گذارد، بنا بر این از همه‌ی متقاضیان خواهشمندیم که قبل از تاریخ لیلام درخواستی‌شان را کتبا در موسسه آلسو ثبت نمایند.

آدرس دفتر ناحیه دهم، سرک دوازدهم قلعه فتح‌الله نمبر خانه ۲۵۰ ولایت کابل

شماره تماس ۰۷۷۲۴۶۰۸۹۱ ، ۰۷۹۲۸۲۲۹۲۳

◇ ◇ ◇ ◇

محترم وارد محمد خان فرزند خان محمد مالک لاپراتوار طبی احسان واقع ولایت خوست که قبلا درجه مکتوب نمبر ۹۸۴۵۰۳ مورخ ۱۳۹۶/۸/۲۷ رسما از طریق این اداره افتتاح گردیده طی درخواستی جداگانه به ریاست محترم عمومی ثبت مرکز و مالکیت های فکری خواهان فروش لاپراتوار خویش بالای محترم قیمت خان فرزند عبدالعلی گردیده که ریاست محترم احکام لازم ارشاد فرموده اند اشخاص ،موسسات و دوایر دولتی که در مورد لاپراتوار مذکور ادعای داشته باشد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به وزارت صحت عامه آمریت عرضه خدمات صحی بخش خصوصی مراجعه نموده در غیر آن ادعای شان باطل میباشد ۲۲۳۶

◇ ◇ ◇ ◇

اعلان داوطلبی پروژه آبرسانی قریه اتفاق دارای کود شناسایی 01-0110-M0068 شورای انکشافی قریه اتفاق برنامه ملی میثاق شهروندی جهت تکمیل پروژه شبکه آبرسانی احجام ذیل

۱_ حفاری ۱ حلقه چاه آب به شکل دورانی به قطر ۱۰ انچ به عمق ۱۲۰ متر معه پاک کاری و پمپ تست آن.

۲ تهیه و نصب ذخیره فلزی ۲۷ متر مکعب به ارتفاع ۱۲ متر که مربوط یک باب شبکه آب آشامیدنی میباشد مطابق طرح داده شده که شم فورم هذا میباشد را به قرار داد میدهد

◇ ◇ ◇ ◇

شرکت های علاقمند و واجد شرایط میتوانند آفرها را از شورای انکشافی قریه اتفاق واقع ولسوالی نگرامی و یا به شماره های تیلفون ۰۷۸۸۲۰۵۰۳ تماس گرفته بدست آورند و الی ۲۱ روز بعد از تاریخ اعلان نرخ داده شده خود را در پاکت سربسته به شورای مذکور تسلیم دهند آفرهای مذکور در قریه ۲۱ روز بعد از تاریخ اعلان به ساعت ۹:۰۰ با حضور داشت هیئت باز شده و برنده اعلان میگردد شرطنامه را میتوانند ملاحظه کنند تضمین نقدا اخذ میگردد ۲۲۳۵

◇ ◇ ◇ ◇

محترم دوکتور فضل ذکریا فرزند فضل مالک متخصص جراحی عمومی، که طی درخواستی از صورت مفقودی سند تخصص خویش اطلاع و خواهان اخذ سند مثنی شده است ۲۲۴۰

◇ ◇ ◇ ◇

ریاست معارف شهر کابل ضرورت یک درب حویلی کرایی که حداقل ۲۱ باب اطاق و یا بیشتر از آن را داشته باشد برای سال ۱۳۹۸ غرض تدریس شاگردان لیسه شهرک پامیر مربوط حوزه هفدهم از طریق روزنامه ها به نشر سپرده بود موضوع یکبار دیگر به نشر سپرده میشود علاقمندان درخواست خود را بعد از نشر اعلان الی ۱۲ روز به مدیریت عمومی تهیه و تدارکات ریاست معارف شهر کابل واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند. ۲۲۲۷

◇ ◇ ◇ ◇

ریاست معارف شهر کابل غرض تدریس شاگردان متوسطه آسیاب بیني به یک درب حویلی که حداقل ۶ باب اطاق و یا بیشتر از آن داشته باشد برای سال ۱۳۹۸ ضرورت دارد اشخاص که در ساحه حوزه سیزدهم هجوم‌عمیر داشته باشند و طور کرایه بدهند درخواست های خویش را بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به مدیریت عمومی تهیه و تدارکات ریاست معارف شهر کابل واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند ۲۲۲۳

◇ ◇ ◇ ◇

شرکت ختمالی و مشورتی راستا دارنده جواز نمبر D21153 جواز شرکت مفقود گردیده است اعتبار ندارد ۲۲۲۵

◇ ◇ ◇ ◇

محترم نورالرحمن ولد منورخان دارنده تذکره (ج ۲ ص ۱۳۵۶ ص ۱۱۸ ث ۵۸۳) مسکونه اصلی ولایت کنر امتیاز یک باب دوملتون ملکیت خویش را به اسم خنیخ غرنی واقع ناحیه پنجم ولایت کابل بالای محترم هدایت الله ولد بسم الله دارنده تذکره ح ق ۱۳۷۸ ص ۲ ث ۱۰ ،مسکونه اصلی ولایت ننگرهار به فروش میرساند اشخاص ،موسسات و دوایر دولتی که بالای درملتون مذکور ادعای داشته باشد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به این اداره اطلاع دهند ۲۲۶۰

◇ ◇ ◇ ◇

ریاست محکمه ابتدائیه تجارتی کابل به اطلاع اسامی حاجی هنر ولد حاجی نور حسن که مسکونه ناحیه نهم شهر کابل میباشد میرساند هرگاه نامبرده مذکور تا مدت دو ماه جهت تعقیب دوسیه نسبتی شان به این محکمه حاضر نگردد در غیاب شان تصمیم اتخاذ و آنته حق شکایت را ندارد ۲۲۰۴

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم مروه بنت محمد فاروق مفقود گردیده اعتبار ندارد 2517

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم علی احمد ولد حسین داد مفقود گردیده اعتبار ندارد 2507

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم شهزاده ولد حاجی زرګل مفقود گردیده اعتبار ندارد 2515

◇ ◇ ◇ ◇

محترم جمیله بنت غیاث الدین وکیل شرعی نواخانه سلیمان قاسمی واقع ناحیه دوم ولایت بلخ که ملکیت محترم محمد الله ولد غیاث الدین دارنده تذکره ( ج ۲ ص ۱۹ ث ۹۲ ) مسکونه اصلی ولایت بلخ میباشد بالای محترم محمد نسیم ولد محمد قاسم دارنده تذکره

ح ۳ ق ۱۳۸۳ ص ۴۰ ث ۳۰ ،مسکونه اصلی ولایت بلخ به فروش میرساند اشخاص ،موسسات و دوایر دولتی که بالای درملتون مذکور ادعای داشته باشد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به این اداره اطلاع دهند ۲۲۳۱

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم ذبیح الله ولد حیات الله مفقود گردیده اعتبار ندارد 2004

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم سیف الله ولد محمد فیروز مفقود گردیده اعتبار ندارد 2497

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم نوروزی منګل مفقود گردیده اعتبار ندارد 2498

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم حسن ولد غلام محمد مفقود گردیده اعتبار ندارد 2495

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم محمد عارف ولد عبدالغفور مفقود گردیده اعتبار ندارد 2501

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم خدای داد ولد عبدالاحد مفقود گردیده اعتبار ندارد 2502

◇ ◇ ◇ ◇

جواز کار نمبر ۹۰۰۲۱۰۲۴۸۸ به اسم خواجه فهیم ولد خواجه محبوب مفقود گردیده اعتبار ندارد ۲۵۱۳

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم محمد [illegible] ولد محمد یاسین مفقود گردیده اعتبار ندارد ۲۵۳۳

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم امیدالله ولد محمد علی مفقود گردیده اعتبار ندارد ۲۵۲۵

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم محمد مبین ولد محمد یاسین مفقود گردیده اعتبار ندارد ۲۵۳۲

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم نورالدین ولد نورمحمد مفقود گردیده اعتبار ندارد ۲۵۱۹

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم محمد جمعه ولد علی مبین مفقود گردیده اعتبار ندارد ۲۵۲۰

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم نصیره بنت قربان مفقود گردیده اعتبار ندارد ۲۵۲۲

◇ ◇ ◇ ◇

پاسپورت سیاحتی به اسم زهرا بنت سفر [illegible] مفقود گردیده اعتبار ندارد ۲۵۲۴

◇ ◇ ◇ ◇

شماره WJ/98/C-05/NCB

ریاست عمومی دارالانشای ولسی جرگه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی محدود تجهیزات و روغنیات که مشخصات آن موجود است اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوطه را در حافظه یا فلش دیسک از اداره و یا ویبسایت www.npa.gov.af بدست آورده و آفرهای خویش را از تاریخ ۱۳۹۸/۱/۱۷، مطابق شرایط مندرج شرطنامه، به طور سربسته، مهر و امضا با مبلغ ۲۷۰۰۰۰ ( دوصد و هفتاد هزار ) افغانی تضمین آفر طور ضمانت بانکی الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۳۹۸/۲/۹ به آمریت تهیه و تدارکات واقع پارک دارالامان مقابل شفاخانه کیور، الحاقیه شورای ملی ارایه نمایند. آفرهای نا وقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشند. ۲۲۱۳

◇ ◇ ◇ ◇

شماره WJ/98/G-04/NCB

ریاست عمومی دارالانشای ولسی جرگه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی محدود [illegible] مشخصات آن موجود است اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوطه را در حافظه یا فلش دیسک از اداره ویا ویبسایت www.npa.gov.af بدست آورده و آفرهای خویش را از تاریخ ۱۳۹۸/۱/۱۷، مطابق شرایط مندرج شرطنامه، به طور سربسته، مهر و امضا با مبلغ ۳۴۰۰۰۰ ( سه صد و چهل هزار ) افغانی تضمین آفر طور ضمانت بانکی الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۳۹۸/۲/۱۰ به آمریت تهیه و تدارکات واقع پارک دارالامان مقابل شفاخانه کیور، الحاقیه شورای ملی ارایه نمایند. آفرهای نا وقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشند. ۱۳۱۲

## سوله د افغانانو په غوښتنه...

د ملي ټولنې او رسنیو ۲۰۰ استازو برخه لرله او د سولې پر موضوعاتو یې بحث وکړ. هغې زیاته کړه موږ په دې خاطر چې مشخص آدرس ایجاد او خپل غږ لوړ پورته کړو، دغه کنفرانس مو جوړ کړ او لومړی مو حکومتي مسوولینو ته مراجعه وکړه او وروسته خپل غږ بین المللي ټولنې ته رسوو. اغلې رسولي وویل: سوله زموږ اصلي غوښتنه ده او موږ غواړو هغه پرېکړې چې زموږ په اړه کېږي او یا هغه اندېښنې چې لرو، باید خواب شي. په دې غونډه کې د رسنیو په استازیتوب صدیق الله توحیدي د یاد کنفرانس د ګروپي بحثونو په اړه وویل، په کنفرانس کې د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام د بدلون نه منل، د ملي وحدت په توګه د اساسي قانون تضمین، په آګاهۍ لېږه ټاکې، د اوریدو ټینګښت، د ملکي ټولنو د مخنیوي، باور جوړولو، له ټولو ټوروستو ډلو سره د طالبانو د اړیکو پر ټینګو کولو، د ښځو د سولې مذاکره کوونکي پلاوي د ګمارلو، د نظام تداوم او پر طالبانو د نیوکې کولو د حق په اړه پر ۱۲ بحثونو هراړخیزې خبرې وشوې. وروسته مرتضی حقیقت د یاد کنفرانس پرېکړه لیک ولوست چې په کې د سولې د مذاکراتو تر پایلو پورې په اساسي قانون کې د نه لاسوهنې، د موقت حکومت ایجاد د حل لار نه ده، د فوري اوربند پر اعلام، د بندیانو او ملکي تلفاتو پر مخنیوي، د سولې په مذاکراتو کې او له هغه وروسته د ښځو د مؤثر حضور تضمین ورکړل شي، د بیان پر ازادۍ، د مطلق نه کولو، د ډیډخلو هېوادونو له لوري د مشخصو تضمینونو په ورکولو او د سولې په پروسه کې د بین الحکومتي سازمانونو په رول ټینګار شوی و. نوموړي په دغه راز اجرائیه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله خبرې وکړې او د یاد کنفرانس د جوړونکو د نوښت د قدردانۍ ترڅنګ یې وویل: نشي، د سولې په اړه د افغانستان د خلکو د هیلو او اندېښنو لپاره بیان کړ. ده زیاته کړه: ستاسې د وړاندیزونو محتوا، د افغانستان د مطلق اکثریت د خلکو غوښتنه ده، څکه هېوادوال د جګړې دوام نه غواړي. هغه ټینګار وکړ او سولې مخلفه نه کېږي او که داسې کار وشي نو په هغه سوله به وي او په اصل کې به سوله نه وي. ډاکټر عبدالله عبدالله وویل، که چېرې موږ خپل غږ په واحد ډول پورته کړو، دا یو ستر قوت دی. علما، مشران او د افغانستان ټول خلک له موږ سره په دې غم کې شریک دي. وروسته جمهور رییس غني د یاد کنفرانس له جوړونکو څخه د مننې ترڅنګ

وویل، ستاسې حضور او د پرېکړه لیک خپرول د دې ښکارندويي کوي چې اساسي قانون او د هغه ارزښتونه یواځې د کاغذ پرمخ نه، بلکې زموږ په زړه او مغز کې ځای لري. ده زیاته کړه زموږ تمرکز په ملي بحث کې د سولې د هدف په نامه ورک شوی او د سولې دا هدف زموږ د اوسني او راتلونکي نسلونو ده. جمهوررییس په دې اړه چې سوله په حاشیه نه، بلکې زموږ د ملي بحث په متن کې قرار لري په ټینګار سره وویل: د دې اړتیا ده چې سوله باید یوه کلمه نه وي، د هغې ابعاد او ډولونه دې په پام کې ونیول شي، څکه پایداره سوله د افغانستان د ثبات لامل ګرځي. جمهوررییس غني وویل، هدف او وسیله باید تفکیک شي، سوله وسیله ده او د قانوني او ولسواک نظام په وسیله سیاسي ثبات، هدف دی. هغه زیاته کړه، له اساسي قانون څخه تېرېدنه د بقا او د ملي منافعو د تامین نسخه نه ده او ملي استحکام زموږ د اساسي قانون پایله ده. دغه راز له ټولو بین المللي شریکانو سره زموږ د اړیکو اساس د ثبات ټینګښت او د اساسي قانون خوندي کول دي. جمهوررییس وویل، موږ چانه تسلیمي نشو ورکولای او نه هغې چې د سولې مذاکرات پایلې ته ونه رسیږي. موږ د خپلې هر لوښت خاورې څخه په قوت او عزت دفاع کوو. جمهوررییس غني د جنګ مدیریت ته په اشارې وویل، زموږ ټینګار دادی چې اوربند رامنځته او د هراړخیزو مذاکراتو لپاره شرایط برابر شي. محمداشرف غني څرګنده کړه، د سولې مذاکره بې قید او شرطه ده، خو سوله قید او شرط لري او د افغانستان ملت د مذاکراتو حدود ټاکي. ده ټینګار وکړ، که چېرې فشار راوړل کېږي چې غیرقانوني چلند وکړو، دا موږ نه د منلو وړ نه ده. جمهوررییس ټینګار

وکړ، د سولې مذاکرات به جدي او اساسي وي او چې ملي یووالی موجود او په یوه خط کې ودرېږو، زموږ دریځ به په مراتبو پیاوړی وي. د هېواد جمهوررییس وویل، د ملي یووالي حکومت د سولې شرایط برابر کړي، څکه موږ د خپل ملت درد احساسوو. ده زیاته کړه، د امریکا متحده ایالاتونو سره هوکړې ته رسېدلي یوو د افغانستان خلک چې د سولې پروسه کې په هره موضوع اندېښنه ولري، په مفصله توګه به پرې خبرې کوو. جمهوررییس غني د دې په څرګندولو سره چې د افغانستان د خلکو په اراده باید تامیم فعالیت ونه شي وویل، موږ ارزښتونو ته باورمند یوو او په تعقل وړاندې چلند کوو.

# هیواد

HEWAD DAILY

سیاسي - اقتصادي ورځپاڼه

پنجشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱۵مه د ۱۴۴۰ ق د رجب المرجب ۲۸مه د 4/4/2019



**په هیواد ورځپاڼه کې ګډون وکړئ!**

د دولتي ادارو، عامو خلکو او زده کوونکو لپاره کلنۍ ګډون؛ (۴۰۰۰) افغانۍ

۶ میاشتنۍ ګډون؛ (۲۰۰۰) افغانۍ

د کورنیو شرکتونو، مؤسسو او انجوګانو لپاره کلنۍ ګډون؛ (۶۰۰۰) افغانۍ

۶ میاشتنۍ ګډون؛ (۳۰۰۰) افغانۍ

د بهرنیو سفارتونو، انجوګانو او مؤسسو لپاره کلنۍ ګډون؛ (۸۰۰۰) افغانۍ

۶ میاشتنۍ ګډون؛ (۴۰۰۰) افغانۍ


## «ژر به د صنعتي پارکونو د برېښنا ستونزه هواره شي»

د افغانستان برېښنا شرکت وايي، تر راتلونکو درېیو میاشتو به د صنعتي پارکونو د برق ستونزه په بشپړ ډول هواره شي. د دغه شرکت مشر امان الله غالب د چهارشنبې په ورځ د کابل صنعتي پارکونو لپاره د ۲۰ میګا واټه برېښنا اضافه کولو د پروژې په پرانیسته کې وویل چې تر راتلونکو څو نورو میاشتو کې به د دغه ولایت د خصوصي سکتور صنعتي پارکونو ته ۱۲۰ میګا واټه برق ورسوي. د نوموړي په خبره، د دغې پروژې لګښت ۲۰ میلیونه ډالره دی او د دغه اندازه برېښنا د وکړای شي چې د فابریکو د پرچاوي ستونزه هم حل کړي. د افغانستان د برېښنا شرکت د معلوماتو له مخې اوس‌مهال د کابل صنعتي پارکونه ۲۰ میګا واټه برېښنا لري، خو په‌دې اندازه برېښنا د فابریکو د تولیداتو لپاره کافي نه‌بلل کېږي.

## بهرنۍ لنډې خبرونه

### د سېلابونو له وېرې ګڼو ایرانیانو کلي پرېښي



د ایران حکومت په خوزستان ولایت کې د سېلابونو د خطر له کبله د ۷۰ کلیو د خالي کولو لارښوونه کړې ده. ویل شوي چې دغه کلي د دیز او کرخه سیندونو ته نږدې پراته دي. د ایران په بېلا بېلو ایالتونو کې په تېرو دوو اوونیو کې سېلابونو ۴۷ انسانان وژلي. حکومت په ډېرو هغو ایالتونو کې چې د سېلاب له ګواښ سره مخامخ دي، بېړنی حالت اعلان کړی دی.

### د هند او پاکستان په نښتو کې ۷ کسان وژل شوي

په کشمیر کې د پاکستاني او هندي عسکرو ترمنځ په وسله واله نښته کې ۷ انسانان وژل شوي ۳ پاکستاني عسکر او یو ملکي وګړی، همدا راز یوه هندۍ ښځه، یوه نجلۍ او د هند د نیمه پوځي ځواک یو غړی وژل شوي دي. د پاکستان پوځ ویلي چې هندي عسکرو یې د شپې له خوا د پاکستان تر ولکې لاندې سیمه کې پرتې پوستې په نخښه کړې دي.

### سلګونه میلیونه انسانان له لوږې سره مخ دي

د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې سازمان «اېف اې او» په حواله په تېرکال کې په ۵۳ هېوادونو کې ۱۱۳ میلیونه انسانان د لومړۍ ښکار وو له ناوړه تغذیې افغانستان، کانګو جمهوریت، اېتوپیا، نایجیریا، جنوبي سوډان، سوډان، سوریه او یمن اغېزمن وو. د هغو هېوادونو شمېر مخ پر زیاتېدو دی چې د خوراک رسونې په برخه کې له سختو مشکلاتو سره مخامخ دي.

### خوان ګوایدو ښایي خوندیتوب له لاسه ورکړي

د وېنزوېلا ستره محکمه غواړي خوان ګوایدو چې ځان یې خپله د هېواد د موقت ولسمشر په توګه نومولی، خوندیتوب لغوه کړي. قاضیانو د اساسي قانون له جوړونکې شورا څخه چې حکومت ته نږدې بلل کېږي، غوښتنه کړې چې په دې موخه اړوند ګامونه پورته کړي. ګوایدو تر دې وړاندې د ۱۵ کلونو لپاره پر سیاسي مقامونو له کاره منع شوی و. خوان ګوایدو له څو میاشتو راهیسې له ولسمشر نیکولاس مادورو سره د واک پر سر مبارزه کې ښکېل دی.

### د الجزایر ولسمشر عبدالعزیز بوتفلیقه استعفا وکړه

د الجزایر ولسمشر عبدالعزیز بوتفلیقه د شپږو اوونیو تر سوله‌ییزو ولسي اعتراضونو وروسته استعفا وکړه. خلکو د ۲۰ کلونو لپاره پر قدرت د ده پر پاتې کېدو اعتراض درلود. ۸۲ کلن بوتفلیقه په ۲۰۱۳ میلادي کال کې تر مغزي سکتې وروسته په عام محضر کې لږ لیدل شوی. د الجزایر د اساسي قانون له مخې د مشرانو جرګې رییس عبدالقادر بن صالح به د ۹۰ ورځو لپاره د دغه هېواد لنډمهاله رهبر وي او باید په الجزایر کې د جمهوري ریاست انتخابات تنظیم شي. فرانسې، په الجزایر کې د ډموکراتیک انتقال ملاتړ ورکړی دی.

### ترزا مې: د «برګزېټ» لپاره مهلت غواړي

د برېتانیا صدراعظمه وایي، له اروپايي ټولنې غواړي چې د «برګزېټ» یا له دې ټولنې د برېتانیا د وتلو پر سر دې د مذاکراتو لپاره زیات مهلت ورکړي. ترزا مې د کابینې په غونډه کې له اوو ساعتونو ناندریو، وروسته، له اروپايي ټولنې د برېتانیا د وتلو پر راتلونکو ګامونو د اپوزیسیون له مشر جرمي کوربین سره هم خبرې وکړي. د برګزېټ پلان څلک ستړي کړي او غواړي عملي شي. تر دې مخکې د کارګر ګوند مشر جرمي کوربین چې د اپوزیسیون استازیتوب کوي، په وار وار د ترزا مې دګوښه کېدو غوښتنه کړې وه، خو اوس باید دواړه د برګزېټ د توافق په اړه خبرې وکړي. له بهرنیو سایټونو څخه

## جمهوررییس غني د مرحوم ډاکټر عبدالولي وکیل جنازې ته درناوی وکړ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهوررییس محمداشرف غني پرون له غرمې مخکې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د لوګر د ولایتي شورا مرستیال مرحوم ډاکټر عبدالولي وکیل جنازې ته درناوی وکړ. جمهور رییس غني په شهید محمد داوودخان روغتون کې د مرحوم ډاکټر عبدالولي وکیل اروا ته د دعا پرمهال وویل، ډاکټر عبدالولي وکیل هېواد او خلکو ته د خدمت او صداقت ژمنه لرله هغه د اخلاقو نمونه و او هیڅ‌چا هم تونده خبره ترې واله وریده. جمهوررییس د هغه پر مړینې د خواشینۍ څرګندولو پرمهال د مرحوم ډاکټر عبدالولي وکیل کورنۍ، د لوګر ولسونو، د ولایتي شورا استازو او د افغانستان خلکو ته تسلیت ووایه. ورپسې د مرحوم ډاکټر عبدالولي وکیل د کورنۍ په استازیتوب جنرال علي شاه احمدزي او حکم خان حبیبي د خبرو پرمهال د جمهور رییس غني له غمشریکۍ او ډاډګیرنې څخه په مننې وویل، مرحوم ډاکټر عبدالولي وکیل یوازې د لوګر نه، بلکې د ټول افغانستان خدمتګار او خوان کدر وو. وروسته جمهور رییس غني تر ټاکلي ځای پورې د مرحوم ډاکټر عبدالولي وکیل د جنازې د لېږد مراسمو کې چې د تشریفاتو قطعې منسوبینو په خپلو اوږو لېږدوله، ملتیا وکړه.

## خلیلزاد د لوی کندهار مشرانو ته له طالبانو سره د خپلو خبرو په اړه معلومات ورکړل

د افغا سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمي خلیلزاد ورمه ورځ سې شنبه کندهار ته لاړ. خلیلزاد په کندهار کې د لوی کندهار (کندهار، هلمند، زابل، ارزګان، له قومي مشرانو او ولسي استازو سره ولیدل. ښاغلي خلیلزاد د لوی کندهار مشرانو ته د قطر په دوحه کې له طالبانو سره د خپلو خبرو او په هغو کې د شوي پرمختګ په اړه معلومات وړاندې کړل. خو د چارو کتونکي خوشال خلیل وایي چې خلیلزاد د لوی کندهار له مشرانو سره نه، بلکې د کندهار د ولایتي شورا د رییس سید جان خاکرېزوال په شان کسانو سره کتلي دي. د خاکرېزوال په اړه ویل کېږي چې یو بې سواده زورواک دی چې د کرزي په ملاتړ د ولایتي شورا رییس ټاکل شوی دی. راپورونه وایي چې خلیلزاد همدارازپه کندهار کې د طالبانو له مهمو قوماندانانو سره هم ولیدل. ده پرون د افغانستان له ولسمشر، اجرائیه رییس، د ولسمشر د دفتر رییس، د سولې د دارالانشا رییس، پخواني جهادي مشر عبدالرب رسول سیاف او د بهرنیو چارو وزیر سره ولیدل. خلیلزاد ورمه ورځ کندهار ته تر راتلو مخکې له د بهرنیو چارو له پخواني مرستیال حکمت خلیل کرزي او د مالیې پخواني وزیر عمرزاخېلوال سره ولیدل. خلیلزاد دا کتنې په قطر کې له طالبانو سره د شپږم پړاو خبرو په درشل کې کوي. دی به پاکستان ته هم لاړ شي.


## اعلان وزارت اطلاعات و فرهنگ

تهیه و تدارک ۵ قلم اجناس تکنالوژی گسترش نشرات روزنامه‌های دولتی در پنج زون کشور (بلخ، ننگرهار، کندهار، هرات و پکتیا)

شماره داوطلبی MOIC/ATRA-1/G-9/NCB/98

آمریت تدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا درپروسه داوطلبی تهیه و تدارک ۵ قلم اجناس تکنالوژی گسترش نشرات روزنامه‌های دولتی در پنج زون کشور (بلخ، ننگرهار، کندهار، هرات و پکتیا) با شماره داوطلبی MOIC/ATRA-1/G-9/NCB/98 اشتراک نموده وسافت شرطنامه مربوط را از مدیریت عمومی تدارکات و ویب سایت www.npa.gov.af بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته ازتاریخ نشر اعلان الی زمان ضرب الاجل تسلیمی آفر که ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر مورخ 1398/۰۲/۱۲ تعیین گردیده است، به وزارت اطلاعات وفرهنگ واقع جاده قانون اساسی، آمریت تدارکات ،مدیریت عمومی تدارکات منزل چهارم ارایه نمایند وآفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفرصورت گرنتی بانک مبلغ 200,000.00 دو صد هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۱۳۹۸/۰۲/۱۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر در آمریت تدارکات تدویر میگردد.

نوت: داوطلبان محترم که سافت شرطنامه را از سایت اداره محترم تدارکات ملی دانلود می نماید درخواستی خویش را جهت ثبت به آمریت تدارکات، وزارت اطلاعات و فرهنگ ارسال نمایند در غیر آن آفر ارائه شده قابل اعتبار نخواهند بود.


## په ملکي ادارو کې د ښځو شمېر له ۲۷ سلنې پورته تللی

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون رییس احمد نادر نادري، وایي، په تېر ۱۳۹۷ لمریز کال کې د دغه کمیسیون د کړنو له امله د ملکي خدمتونو په ادارو کې د ماموریتو دګمارلو په برخه کې پام وړ بدلون راغلی او اوس د لوړو رتبو بستونو په‌ګډون نږدې ټول بستونو ته ماموریتو د ازادې سیالۍ له لارې ګمارل کېږي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د وینا له مخې تېرکال په ملکي ادارو کې د ښځو ونډه پنځه سلنه لوړه شوې ده. دا اداره په پام کې لري، چې په روان ۱۳۹۸ لمریز کال کې دا شمېر ۳۰ سلنې ته لوړ کړي. ښاغلي نادري وویل، چې د ملکي خدمتونو په ادارو کې د ماموریتو دګمارلو په برخه کې پخواني فرهنګ بدلون ته اړتیا ده. هغه وویل، دا ډول بدلون لپاره کار پیل شوی دی. احمد نادر نادري وویل، په دې شمېر کې د لوړې او دویمې رتبې شاوخوا اوه سوه ماموربستونه هم شامل دي. په افغانستان کې د ملکي خدمتونو د ماموریتو دګمارلو په بهیر کې د شفافیت پر وړاندې د خپلواکو د پالنو، واسطې دود ترڅنګ، قومي اړیکې او د ماموریتو دګمارنې پر وخت بېړې اخیستل هم دګوابېنو په توګه ګڼل کېږي. دا اداره په پام کې لري، چې په روان ۱۳۹۸ لمریز کال کې ۷ مخ

## افغان حکومت د سولې له بین‌الافغاني ...

شمولیت وویني، سلا مشورې روانې دي. نوموړی وایي: «د حکومت مشرانو د یو شمېر سیاستوالو سره لیدنې کتنې او سلا مشورې پیل کړې چې څنګه کېدای شي دوی د سولې د خبرو لپاره په یو محور راټول شي. ده محورونه لکه د مسکو کنفرانس، د قطر د خبرو یا نورو ځایونو کې چې غونډې جوړېږي، دا جلا جلا محورونه یوې نتیجې ته نه‌رسېږي، ځکه زموږ په نظر دا اجرائیه په نه‌لرې او حکومت په‌کې نه‌شته.» د اجرائیه ریاست د ویاند مرستیال فریدون خوځون زیاته کړه، چې د سولې لپاره د یو مشترک محور د رامنځته کولو په هڅو سربېره، حکومت د سولې د یو داسې مرکچي پلاوي پر جوړېدو هم کار کوي چې د ټولو افغانانو استازیتوب وکړي او ورته د ملګو وړ وي، خو د ده پر وینا طالبانو ته داسې کومه پلمه په لاس ورنه‌شي چې یو ځل بیا له بین‌الافغاني خبرو څخه مخ واړوي. دا چې د داسې یو ټول شموله محور او همدارنګه د سولې د بین‌الافغاني خبرو لپاره د مرکچي پلاوي په اړه روانې سلا مشورې به کله نتیجې ته ورسېږي. اجرائیه ریاست د ویاند مرستیال فریدون خوځون وویل: «په‌دې اړه به د حکومت مشران له نورو او ټولو مخکښو سیاسي جهتونو سره، د مدني ټولنې له استازو سره، همدارنګه د ښځو له استازو سره وګوري او موږ هیله‌مند یو، چې ډېر ژر یو هم شموله مرکچي پلاوی اعلام شي او هم د ملي اجماع تر چتر لاندې یو واحد غږ د سولې لپاره پیدا کړو.» په کابل کې د بین‌الافغاني خبرو لپاره د مرکچي پلاوي او یو افغان شموله محور په جوړېدو دا سلا مشورې په‌داسې حال کې روانې دي، چې د افغان سولې لپاره د واشنګټن ځانګړي استازي زلمي خلیل‌زاد په کابل کې د ملي یووالي د حکومت له مشرانو او نورو سیاستوالو سره له لیدلو او سلا مشورو وروسته د سې شنبې په ورځ کندهار ته تللی و.

## ژمی ختم شو، خو لا هم د برېښنا پرچاوي ...

نه‌شته. هره ورځ وداني او ښارګوټي جوړېږي، خو موږ ته څوک خبر نه‌راکوي چې ورته له وړاندې چمتووالي ونیسو دوهم دا چې په دومره موده کې چې د برېښنا د پرچاوي ستونزه رامنځته شوې، له ازبکستانه افغانستان ته د برېښنا غځېدلي مزي د ډنډ غوري، شهاب‌الدین ولسوالیو په چشمه شېر سیمه کې د ناامنیو له امله پرې شوي، چې په دوو درېیو ورځو کې به دا ستونزه حل شي.»

## د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د جام منار د ساتنې لپاره پراخې...

متخصصانو تخنیکي پلاوی یو ځل بیا جام منار سروې کړي او وېې څېړي. هغه دغه راز د جام منار د لاندې امنیت د تامینولو په خاطر، په زیاتو امکاناتو سره د امنیتي ځواکونو د زیاتوالي غوښتنه وکړه. د غور والي وویل چې زیاتې ستونزې په هېواد کې د فرهنګي امکاناتو د کمزورتیا له پلوه رامنځته شوې او د دغو ستونزو د لرې کولو په خاطر باید د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت بودجه د ملي دفاع وزارت له بودجې سره برابره وای او فرهنګ ته پاملرنه په زیاتو برخو کې د ستونزو د لرې کولو سبب کېږي. هغه د موجودو ستونزو له په پام کې نیولو سره، د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت څخه وغوښتل چې د دغه ولایت تاریخي آبداتو او فرهنګي میراثونو ته پاملرنه وشي. حسیني سایي د هغو غونډو په باب چې د تاریخي آبداتو په تېره بیا د غور ولایت د جام منار د ساتنې او ټینګښت په خاطر د دغه وزارت له خوا د یونسکو له پلاوي سره هڅې یادې کړې. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرستې څرګنده کړه ،چې دغه وزارت د تاریخي په تېره بیا د خطر په حال کې آبداتو د ساتنې او ټینګښت په خاطر زیاته پاملرنه او پرله پسې هلې ځلې کوي. د غور ولایت د جام منار په ۲۰۰۲ میلادي کال کې د ملګرو ملتونو سازمان د روزنیز، علمي او فرهنګي سازمان (یونسکو) له خوا د نړۍ د فرهنګي میراثونو په لیست کې ثبت شوی دی


د دولتي ورځپاڼو رییس: فرید احمد فرهنګ ۰۷۰۴۰۰۸۰۸۰

مسؤل مدیر: احمد زلمی شهباز ۰۷۰۰۰۷۸۵۷۸ ۰۲۰۲۳۰۲۱۳۰

مسوول سکرتر: شیرمحمد نظري ۰۷۷۲۰۳۶۷۱۵

ډیزاین: احمدشاه سخي ۰۷۹۹۵۶۶۲۸۵

برېښنالیک: hewad1948@gmail.com

کتونکې ډله

- شاولي قرار
- سیدیوسف (شریفی)
- رفیع الله رووفي
- محمدیونس مایار
- میر مسجدي عزیزي
- حبیب الرحمن ابراهیمي

Farid Ahmad Farhang , Head of Govt. Dailies

Editor –in-chief: Ahmad Zalmai Shahbaz 0700078578

د ورځپاڼې د وېش څانګه

۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳ _ ۰۲۰۲۳۰۰۳۳۷

چاپځای: د آزادۍ مطبعه

د ورځپاڼو وېب سایټ: www.dailies.gov.af

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**